بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# کتاب پېژندنه

* کتاب نوم: په لپه کې سپرغۍ
* لیکوال: نورشاه نوراني
* چاپ چارې: ګل خپرندویه ټولنه
* کمپیوز او ډیزاین: بسمل ګرافیکس
* چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
* چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ ش
* چاپ وار: لومړی

* د لیکوال اړیکې: ۰۷۷۹۸۸۵۰۸۰_۰۷۹۹۱۴۸۹۷۷
* ایمېل ادرس: Khost.tamadon@gmail.com
* د فیسبوک ادرس: Noorshah Noorani

نوټ: د کتاب ټول حقوق له لیکوال او خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

ګل خپرندویه ټولنه:

0778887778

0777543619

0766653034

0776629495

د فیسبوک ادرس: ګل خپرندویه ټولنه

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

دا کتاب هغو پتمنو او زيارکښو قلموالو
ته ډالۍ کوم، چې د نړۍ له ډېرو مادي
لاسته راوړنو څخه يې ځانونه محروم
کړي، د ژوند خوارۍ او ارزښتمنې شيبې
يې د پښتني کلتور بډاينې ته ځانګړې
کړې دي.

ketabton.com - The Digital Library

## د ګل خپرندویې ټولنې ځانګړی پیغام:

ګل خپرندویه ټولنه یوه ځانګړې، فرهنګي، علمي او موخواله اداره ده، چې غواړي په هېواد کې د کتاب لوستنې بهیر ته لاره هواره کړي.
د دغې ادارې آرمان د علم او پوهې له لارې افغانستان وتلو پړاوونو ته رسول دي؛ دغه ارمان ته رسیدل د زده کړې فرهنګ خپراوي ته اړتیا لیدل کیږي.
د دې ټولنې اداره ژمنه کوي، چې په ټولنه کې به د معیاري کتابونو چاپونې په زور شته جهالتونه له منځه وړي. افغان زلمي به نړۍ ته خپل استعداد د کتاب لوستنې او فکري پیاوړتیا په برخه کې وښايي.
مونږ له هرځایه هر ډول کتاب تر لاسه کوو، په هر ځای کې یې له هرې ممکنې لارې خپروو. په دغه بهیر کې پرته له هر ډول تبعیض او توپیره، د افغان نسلونو سره د فرهنګي او فکري مرستې لپاره چمتو یاستوو.
زموږ هڅو رنګ نه؛ بلکې رنګونه راوړي دي. په لومړي چاپ سره مو د لیکوال او شاعر بسمل بل کتاب ( لېونۍ خبرې ) چاپ کړ او دا دی په دوهم چاپ سره د ځوان وکیل، لیکوال، شاعر او ژورنالېست نورشاه نوراني کتاب چاپوو.
دا یې پیلونې دي او زموږ پیل به ان شاء الله پای نه لري.
مونږ به غونډې جوړې کړو؛ بحثونه به په لار واچوو او د کتاب لوستنې له لارې به د روښانه راتلونکي زېري ورکړو!
راځئ، د خپل هېواد ټول ځوان نسل او هر انسان سره دا مرسته وکړو، چې کتاب ولولي.
له دغې لارې به په یوې هوښیارې ټولنې کې ژوند وکړوو.

په درنښت!

د ګل خپرندویه ټولنې مشر

امین الله امین

ketabton.com - The Digital Library

# يادونه او منته

کلونه پخوا به کله، چې مونږ په مشاعرو کې ګډون کولوو، د سټېج پر سر به د شاعرانو لخوا بل کوم ادبي ژانر نه اوريدل کيده؛ يوازې به ادبي غونډې د شعرونو په ويلو رنګينې وې. ياني داسې يو څوك نه و، چې دنثر په برخه کې يې لنډه کيسه ادبي ټوټه او کوم بل ادبي مطلب وړاندې کړی وای. خوست کې هغه مهال نثر ليکونکي په نشت حساب وو. علت يې همدا و، چې هرڅه مونږ نوي پيل کړي وو. نوې ټولنه او نوي زلمي شاعران د ادب پرځمکه راټوکيدلي وو. نثر ليکنه څه چې شعرونه يې هم په تول برابر نه وو. خو د وخت په تېريدو سره، چې ادبي ناستې پاستې ډېرې شوې، شاعرانو او د ادب مينه والو دکتابونو مطالعې ته مخه کړه. ورو ورو يې شعرونه هم پاخه شول او يو څه ناڅه دليکوالۍ له دود سره هم اشنا شول. بالاخره يو نيم شاعر به کله کله ادبي ټوټه او لنډه کيسه وليکله؛ خو د چاپ کولو لپاره به يې زړه نه ښه کولو، ځکه چې باور به يې پرې نه درلود. تردې چې يو نيم شاعر خو به کومه نثرې ټوټه چې وليکله له شرمه به يې په محفل کې ملګرو ته هم نه شوه اوروله، پدې دليل؛ چې هغه مهال شاعرانو ته د نثر ليکل ګران کار و. بيا داسې وخت راورسيد، چې د شاعرانو ګډې شعري ټولګې چاپ شوې. دنثر په برخه کې هم ادبي ټوټې ،ناول او لنډې کيسې ځينو شاعرانو وليکلې، په مجلو او ورځپانه کې خپرې شوې، قدم په قدم د نثرليکنې لړۍ روانه شوه. د تېرې يوې لسيزې په لړ کې د شعري ټولګو ترڅنګ د ګڼ شمېر علمي او ادبي اثارو شاهد پاتې شوي يوو، چې دچاپ په ګاڼه و پوسلل شول. له ښه مرغه اوس مونږ تکړه نثر ليکونکي او څېړونکو لرو، چې دحساب وړ دي. دهرې ژبې پرمختيا او د ادبياتو پراختيا د نثر له لارې شونې ده. د دې ترڅنګ په نثر کې ليکونکي خپل پيغام او مفهوم په ښه توګه وړاندې کولای شي. نو لازمه ده، چې دشعر ترڅنګ نثر ته ژوره پاملرنه وشي. ماهم کلونه وړاندې کوښښ کولو، چې د شعر ترڅنګ نثر وليکم؛ ولې پرې برلاسی نه وم. پدې وروستيو کې وتوانيدم، چې څو لنډې کيسې او ادبي ټوټې د خپل خيال او ذوق پرمټ د قلم پرڅوکه وکاږم. همداسې مې وکړل، د ټولنې يو شمېر ناخوالې او واقعيتونه مې په ادبي ژانرونو کې په هنري انداز سره د لفظونو په جامه کې ونغاړل. دفرهنګ او ادب دغوړيدا ترڅنګ مې دټولنې داصلاح او سمون لپاره ځينې واقعيتونه او پيغامونه پکې ځای کړل. دلنډوکيسو او ادبي ټوټو شريکې ټولګې چاپول شايد معيار نه وي؛ خو ولې ما پدې منظور دا کار وکړ، چې شايد پر نورو پنځونو بريالی نه شم. همدا شان پر ژوند هم باور نشته خدای، مه کړه له چاپ څخه رانه پاتې شي. نو لازمه مې وبلله، چې

ketabton.com - The Digital Library

خپل تخلیق ته چاپي بڼه ورکړم . لکه څه ډول مو چې وړاندې په ټولیزه توګه دنثر په باره کې خپل نظر څرګند کړ، په ادبیاتو کې غیر منظوم کلام نثر بلل کیږي. په ادبي اډانه کې د نثر ډولونه او ادبي ژانرونه مخلتفې بڼې لري او هر یو په بېلا بېل اندازه کې لیکل کیږي. په ادبیاتو کې هر نثري ژانر ځان ته قاعده لري. زه نه پوهیږم، چې زما دا ماتې ګوډې لنډې کیسې او ادبي ټوټې به څومره په هغه معیارونو او اصولو برابرې وي، چې ادبپوهانو ښودلي دي. د تخنیکي اوهنري پلوه به شاید ډیرې نیمګړتیا وې ولري، ځکه چې زما د نثر په برخه کې لومړنۍ هڅه ده، چې دخپریدو تر پړاو رسیږي. خود تخنیکي تېروتنو ترڅنګ بیا داسې مفهومونه او پیغامونه هم پکې پراته دي، چې لوستل به یې لوستونکي ته بې ګټې نه وي. ضرور به د انساني چاپېریال د کړنو تت انځورونه او ناخوالې پکې ووینې او ولولې او دپښتنې ټولنې نا دودې به یې په ذهن کې ترسیم شي. دژوند په ډګر کې به ترې ګټه واخلي. مونږ هڅه کړې، چې په ټولنه کې ځینو هغو عیني او پېښیدونکو واقعیتونو ته هنري بڼه ورکړو، چې زمونږ خلك ورسره لاس په ګریوان دي. زمونږ په دردمنه او غمځپلې ټولنه کې ناخوالې ډېرې دي. اکثره تخلیقونه مو د ویر او اوښکو پرمحور را چورلیږي؛ ولې متاسفانه، چې بدبختیو سره مخ یوو. شاعر او لیکوال چې د ټولنې ژباړونکی دی، هرومرو به یې لیکنې او شننې له ویر او درد څخه ډکې وي. زما همدا تخلیقي اثر به هم په لفظونو کې درته د ویر ساندې وغږوي او له عبرت څخه ډکې پېښې به درته روښانه کړي.

ګرانو لوستونکو!

تاسو تا د زړه په مینه بلنه درکوم، چې په کتاب کې شته موضوعات ولولئ، خوند او عبرت ترې واخلئ او د ژوند په ډګر کې ترې ګټه واخلئ. د لیکنې په پای کې لازمه بولم، چې دګل خپرندویه ټولنې هڅاند مشر ښاغلي امین الله امین، شاعر او لیکوال تکړه ډیزاینر انجنیر صیب شمس الله بسمل بل، تکړه ادیب مدیر صیب نجیب الله رحیمي، تاند شاعر او لیکوال ښاغلي جلبل مینه یار، دروند شاعر او لیکوال ښاغلي وسیم وصاف څخه د زړه له تله مننه وکړم، چې د کتاب د پښتۍ، ډیزاین، سمون او ترتیب چارې یې ترسره کړې. زه د ګلونو یارانو د مینې او احسان پوروړی یم، د دوی د همکارۍ او هڅونې برکت و، چې زما کتاب یې د چاپ جوګه کړ. زه ورته د ژوند په ټولو چارو کې بریالیتوب غواړم. پدې هیله چې د ګل خپرندویه ټولنه د کتاب چاپونې لړۍ دوامداره وساتي او د نورو قلموالو شعري ملغلرې او لیکنې د چاپ په زیور سمبال کړي.

په ټوله پښتنه مینه او درنښت

ورور مو نورشاه نوراني

ketabton.com - The Digital Library

## د ښاغلي نوراني د هنر خواږه

کابو يوه نيمه لسيزه وړاندې په پوهنتون کې د محصلۍ پرمهال په کابل کې د خوستيو ژڼيو د فرهنګي هڅو کيسې تودې او اوازې خورې وې. د دغو ژڼيو په سرکې د نورشاه نوراني نوم ډېر يادېده.
هغه مهال د اوس هومره پرېمانه رسنۍ نه وې، خو پېښور کې خپرېدونکې هيلې، ګوربت او ګندهارا مجلو د نورشاه نوراني شاعرانه ولولې او انګازې زما په څېر د ده تر نورو مينه والو ور رسولې. له ښاغلي نوراني دمخه د ده له نوم او شاعرۍ سره اشنا شوم.
خوست ته د لومړي ځل ورتګ پرمهال مې ښاغلی نورانی ارام، کمينه، صميمي او مينه ناك انسان وموند. د خپلې شاعرۍ او شخصيت په څېر سنګين او خوږ و. لرې، خو شمېرلې خبرې يې کولې. خپل او د نورو شعرونه يې په خواږه او زړه پوري انداز زمزمه کول. د ده شاعري د هغه پېر د بې وسيو او بې وزلۍ ګڼ انځورونه او خواږه شاعرانه ترکيبونه لري.
د ښاغلي نوراني شخصيت او وړتياوې کرار کرار وغوړېدې، پر شاعرۍ سربېره يې له نورو کمالونو هم خبرېدم. په هېواد کې له وروستيو تحولاتو وروسته د خبريالۍ په برخه کې هم ښه وځلېده.
څو کاله وړاندې يې پر فيسبوك له سلام او کلام وروسته راته کړه، غواړم د خپل ولس او خلکو د خدمت لپاره د ولايتي شورا وکالت ته ځان ونوموم، ما ويل: دغه سرخوږی او ستړيا دې په وس پوره ده؟
ويل توکل په خدای، غواړم خپلو خلکو ته د خدمت په برخه کې هم ځان وازمايم، نورشاه نوراني د خپل محبوبيت او ښه شهرت له امله د خپلو خلکو په رڼو رايو ولايتي شورا ته لاره وموندله.
په ټولنيزو رسنيو کې چې هره ورځ د ښاغلي نوراني ټولنيز او ولسي خدمتونه ګورم، نو نوموړی په دې برخه کې هم ښه وځلېده، ځکه د خپلو غوره خدمتونو او هلو ځلو پرمټ د ولس منځ او زړونو ته ور ننوت. نوراني دا مهال د خپل هنر د ګڼو مينه والو ترڅنګ د خوست د ولسونو په زړونو کې هم ځای لري.

ketabton.com - The Digital Library

تازه تازه د دغه خواږه انسان له یو بل هنر او کماله هم خبر شوم، راته کړه یې چې( په لپه کې سپرغۍ)په نوم د لنډو کیسو ټولګه یې چاپ ته چمتو ده. زه باوري یم ،چې د شاعرۍ، ملګرتیا او ځان په څېر به یې کیسې هم خوږې او هم له ټولنیزو، روزنیزو، سوله ییزو او انساني پیغامونو مالامال وي.

شاعر، کیسه لیکوال او د خلکو خدمتګار نوراني ته د لا اوږد، برکتي او سوکاله ژوند په هیله خپلې خبرې همدلته پای ته رسوم. د خیال چینه یې تانده او د هنر خواږه یې همداسې پرېمانه اوسه!

درناوی

د ولسمشر ویاند دفتر د خبري څانګې مسول

امیرجان وحید احمدزی

ketabton.com - The Digital Library

**مخ ګڼه** | **لړلیک** | **عنوان**


په لپه کې سپرغۍ ........ 1
سپوږمۍ ........ 5
عجیبه وېره ........ 8
پردۍ هدیره ........ 10
بې وخته واده ........ 17
د واده سامان ........ 22
مرګوني زېري ........ 28
د (روحاني) په وير کې ........ 39
راځئ، د وينو پرځای خولې توی کړو ........ 41
اختر يزه ډالۍ ........ 42
زرګرې ستر ګې ........ 43
انځور يزې نښې ........ 44
( لټه!!!) ........ 45
ماشومتوب ........ 46
د نورشاه نوراني پېژندګلوي ........ 47
د نوراني هنري، ادبي ژوند او هڅې ........ 48
د نوراني ژورنالېستيک ژوند او کړنې. ........ 50

ketabton.com - The Digital Library



# په لپه کې سپرغۍ

د اکبر د کورنۍ غړو به هر سهار په دې مصلحت کوه، چې د کوز کلي له میرګل سره د غني ګل د وژنې خبره وکړي، هر څومره دولت، چې غواړي وربه یې کړي، خو غني ګل چې ووژني، د غلام خان مشر زوی دومره د تورې سړی نه ؤ، یوازې یې د غني ګل څڅه ویره کیده، ځکه ده ورته څو ځلې د مرګوني برید لاره نیولې وه، چې د خپل پلا ر او د منځوي ورور کسات واخلي، هغه کوم، چې یې د پولې پټې پرسر د راپورته شوې لانجې له امله وژلي وو. د اکبر کورنۍ چې هر وخت به یې پدې سره خبرې کولې، (تربورکه پړی وي، ته یې منګور وګڼه ) پکاره ده، چې د ورکیدو لپاره یې د بېړنیو لارو چارو څخه کار واخیستل شي. دوی په کلي کې د ډیرو شتو او سړیو څښتن وو، په کورنۍ کې یې ځینې پوه ځیرك کسان هم وو، چې په هره خبره به یې ښه فکر کوه او بیا به یې د کورنۍ د غړو مینځ ته اچوله، دوی د ډېرو ناستو پاستو په پایله کې خبره په دې سره غوټه کړه، چې د غلام خان کورنۍ دوه تنه غړي مو وژلي، که غني ګل ووژنو دا به دریم پور وي، چې لنډول به یې ګران تمام شي. خو پکارده، چې د کوز کلي میرګل بدمعاش سره پرې خبرې وکړو، هغه ډېر بد سړی دی، په هېڅ شي صرفه نه کوي او نږدې به ورسره پرې وغږیږو، چې غني ګل له مخې لېرې کړي. دوی په همدې سره سلا شول او له میرګل سره یې خبرې پیل کړې، میرګل، چې یو نشه یي اوخونخوار انسان ؤ، یوازې یې د پیسو پیدا کولو لپاره د غلا مرګ او ژوبلې څخه بله لاره نه وه. کوم وخت چې له میرګل سره د اکبر کورنۍ غړو د غني ګل د وژنې خبره شریکه کړه، ده ورته په ورین تندي هرکلی ووایه او ورته یې په ځواب کې وویل:

هغه زما نږدې انډیوال دی، له ماسره یو نیم مازدیګر د (توی)په غاړه کیني، دا خو ډېره ښه او په زړه پورې خبره ده، مونږ یوازې د پیسو په پیدا کولو پسې سر یو، خو دا راته ووایه!، چې په ګوته یې وژنۍ او که د بلې لارې؟ د اکبر د کورنۍ غړو ورته وویل:

ته باید داسې کار وکړې، چې مونږ هېڅ پرې بدنام نه شو او له داسې یوې لارې کار واخېستل شي، چې بنده بشر ته پته ونه لګیږي. میرګل ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library



د داسې چارې ترسره کولو لپاره ډېرې لارې شته، خو يوه لاره چې ما ډېرځوانانو په همدې کار سره د مرګ ترکومې رسولي او ډېرې کورنۍ مې په وير اخته کړې، هغه داسې لاره ده، چې تاسو به هم په خپله ورته حيران پاتې شئ. دوی ورته په خندا شول دا خو ډېره اعلئ خبره ده، د اکبر مشر زوی پيرجان ميرګل په شاه وټپوه او ورته ويې ويل:

ياره بده بلا سړی يې! داسې کسان خو ولې خدای ج تل ژوندي لري. چې د خلکو مشکل پرې حل کيږي. ميرګل ورته وويل:

هيله کوم، دا خو زمونږ دنده ده، چې د غريبو خلکو ستونزې ور هوارې کړو، پدې جريان کې پرې پيرجان بيا غږ وکړ، ياره! ميرګل ته ووايه ! له دغې ناوړه بلا څڅه به څنګه خلاصون ومومو؟ مير ګل:

دا خو ډېره وړه ستونزه ده، چې تاسو ماته د حل لپاره راوړې ده. خو ........ پيرجان غږ پرې وکړ وايه کنه! (خو) څه مانا لري، خبره بشپړه کړه، ميرګل:

دغه کار لکونو پيسو ته اړتيا لري. نوره مو خوښه ده، پير جان:

ته غم مه کوه، چې هر څومره غواړې امر کوه، ميرګل:

سمه ده خو ګورئ، د غني ګل د وژنې لپاره ډېر وخت پکار دی، دومره ژر نه شي کيدای دغه کار د سترګو د رپ خبره نه ده. پيرجان:

دا خو ښه خبره ده، چې هر کار په اختياط او صبر سره وشي، پايلې يې ښې وې. مير ګل:

هو، ګرانه! همدغه خبره ما هم درته کوله، تاسو بې غمه شئ! زه سر له ننه همدغه کار پيل کوم. له پټې معاملې وروسته د اکبر کورنۍ غږي ترې وخوځيدل، مازديګر مهال غني ګل د توی پرغاړه په ميرګل سترګې ولګيدې، هغه ورته د هرکلي غږ وکړ، راځه، پيره! هسې مې په ټول کلي له تا سره طبعه جوړه ده، ګڼې خلك خو ډېر دي، غني ګل مسکۍ شو او ورته ويې ويل:

مننه ګرانه! پر ماهم ګران يې، ځکه درسره کښنم، په خبرو خبرو کې ميرګل ورته وويل:

مونږ او تاسې هم ځوانان يوو، خلکو ډېر څه وکړل، خو يو کار چې زه زياته مينه ورسره لرم او پرې اخته يم او ته يې نه کوې! هغه څه دي، ته پوهيږې؟ غني ګل:

ketabton.com - The Digital Library



نه والا راته وایه؟ هغه یوې بلې نوې پاچاهۍ جوړول دي. غني ګل:
هغه څنګه؟ هغه د چرسو او ځینو نورو منشیاتو کارول دي، چې سړی ترې سخت خوند اخلي. غني ګل: یاره! ته خو نن عجیبه خبرې کوې، دغه کار خو زما پلار او نیکه هم نه دی کړی، زمونږ کورنۍ د پوره نوم خاونده ده دا کار خو زه نه کوم، په دې سره خو د سړې ژوند او کورنۍ تباه کیږي. میرګل:
ته والا هسې پرې اخته یې ځوان باید د ځوانۍ په مرحله کې له هرڅه خوند واخلي، سړی چې زوړ شي بیا نو هېڅ ډول مستي خوند نه کوي، تا د دغې شي خوند نه دی څکلی، که یې وڅکې، بیا به ټول عمر راته دعاګانې کوې او د دنیا ټول غمونه به دې لېرې شي. زه په تا پوهېږم، هره ورځ د خپل پلار او ورور د کسات د اخېستلو په فکر کې وې، دا سودا ډېره مه کوه، لیونۍ به دې کړي، هر کار په صبر کیږي، ما څکه درته وویل، چې ته لږ غوندې هر مازدیګر دم ترې پورته کوه، ټوله شپه به ارامه وې. د میرګل له دې خبرو سره د غني ګل فکر بدل شو، غني ګل:
ته ښه خبره کوې، خو دغه کار سړی باید په احتیاط سره وکړي، ډېر نه، څکه چې سړی له ژونده باسي. میر ګل:
هو! زه همداسې وایم، ته ونیسه یو دم چې خوند درکړي! غني ګل:
راکړه!
هغې په سېګرټ باندې شونډې کېښودې، یو څو دمه یې ښه سینې ته کش کړ. بس، هماغه ورځ وه، چې غني ګل به هر ورځ له میرګل سره د توی پرغاړه سېګرټ واهه. غني ګل د وخت په تېریدو سره د میرګل له لاسه دې حالت ته ورسید، چې بالاخېره نورو سختو نېشو ته یې لاره پیدا کړه او د بېلابېلو ناوړه نېشو په استعمال روږدی شو، هغه د پلار او منځوي ورور د کسات د اخېستو فکر یې له مغزو ووت او په یوه بله لاره سر شو، کله به چې کور ته راته، د کورنۍ له هرغړي سره به یې جنجال ؤ اوهره ورځ به د دوی په کورکې شور او زوږ ؤ. مشر ورور یې څو ځلې عقلي او اعصابي طبیبانو او د معتادینو روغتون ته د تداوی لپاره بوتلو، خو کله به چې دوا لږ غوندې تاثیر وربانډې وکړ او میر ګل به هڅه کوله، چې د دوا په جریان کې پرې بیا هم د چرسو سېګرټ ووهي او یا پرې الکولي مشروبات وڅښي. د وخت په تېریدو سره د غني ګل حالات پسې خرابیدل، وروسته یې مشر ورور او د

ketabton.com - The Digital Library



کورنۍ غړي دېته اړ شول، چې غني ګل په کورکې په زولنو وتړي، څکه دوی یې نور پر ډېرو دواګانو او نصیحتونو سترې کړل، همداسې یې وکړل، چې د کور په یوه خونه کې یې په ځنځیرونو وتړه غني ګل، چې په نښه یې توکو ډېر سخت معتاد ؤ او هر ورځ به یې نارې سورې وهلې، چې ما څه جرم کړی! ما ازاد کړی! روغ سړی یم، چې په ځنځیرونه مو تړلي یم. غني ګل، چې نور خپل اعصاب له لاسه ورکړي وو، یوه شپه پدې بریالی شو، چې خپل لاسونه یې له ځنځیره خلاص کړل او همدغه ځنځیر یې د خونې په یوه تیر پورې وتړه او وروسته یې مری ته واچؤ او خپل ځان یې پرې زندی کړ. د غني ګل د ځان وژنې اوازې د تربورانو ترغوږونو ور ورسیدې، د میرګل سره یې د معاملې د وروستې خلاصون په پایله کې هغه مهال ولیدل، چې ده په خپل ورغوي کې د چرسو یوه اندازه اومه مواد پخول او د شنو لوګیو په ولکه کې راګیر ؤ، په ګوتو یې په زوره زوره موښل، پد ې وخت کې د اکبر د کورنۍ یو تن غړي له ورایه پرې غږ وکړ، چې میرګله! افرین شه! کار وشو. ده مخ ور واړولوه ؤ. په ځواب کې یې دا څو جملې ورته وویلې: ګوره! په لپه کې سپرغۍ به منې دغه سپرغۍ چې هرچا په ورغویو کې موښلې، ژوند یې تباه شوی او کورنۍ یې په درانه غم اخته شویده.

ketabton.com - The Digital Library



# سپوږمۍ

هغه مهال پیوستون ډېر وړوکی و، د دوی او عرفان کورونه د سیند له غاړې سره نېږدې وو، هر مازدیگر به کلیوال او د کلي ورکوټي ماشومان د سیندغاړې ته د ساتېرې لپاره تلل. پیوستون چې لا پلار او مور په ښوونځی کې نه و شامل کړی، عرفان هم د ده همزولی و. دوی به اکثره وخت سره یو ځای لوبې کولې، هر سهار به عرفان د پیوستون د کور په وره کې نارې وهلې پیوستون، چې ډېر خوب زن و، مور به یې په وچ زور له خوبه پاڅه ؤ او ورته ویل به یې، هله زویه! پاڅه! عرفان بیا نارې وهي، چې پیوستونه! را ووځه! مشغولی کوو، پاڅه! پاڅه! پیوستون جانه! هله چای وڅښه! بیا به د باندې ووځې! زه به عرفان ته ووایم، چې یو څو شیبې انتظار وکړي) مور یې، چې پیوستون ډېر نازؤ، ځکه چې پر پنځو لور ګانو د پاس یې هم دا یو زوی و، چې خدای (ج) ورکړی ؤ، ډېر زړه به یې پرې سوزیده. کله به چې د پیوستون پلا ر په ښار کې خپل پلورنځي ته تله، هر وخت به د پیوستون مور ورته ویل:
چې بېرته راځې بیا خو لږ څه مېوه پیوستون ګل ته درسره راوړه! پلا ر به یې هر وخت د واسکټ په جېبونو کې انار، منه، کېله او یا ژاولې اچولې وې هر مازدیگر به پیوستون هم د خپل پلارجان د راتګ لاره څارله، د عرفان پلا رهم په یوه مطبوعاتي اداره کې کار کوه، عرفان او پیوستون دواړو داسې مینه سره درلوده، چې هر وخت به د کلي د ځینو دنگو کلا ګانو دیوالونو په غارونو کې د چنچڼو په بچیانو (مرغزیو) پسې سر ؤ. هروخت به یې د مرغیو بچیان په لاسونو کې نیولي وو، او ساتېري به یې پرې کوله او یا به یې د خان لالا په باغ کې شنو منو په شکولو لاس پورې کوه، خو کله به چې دوی دواړه د کلي کومې زړې بوډۍ او یا کوم بل کلیوال ولیدل، بیا به یې د دوی میندو او پلرونو ته ویل: ګورئ، ستاسو زامن مونږ هره ورځ وینو، چې د دنګو کلاګانو له غارونو څخه د مرغۍ بچي راباسي، خدای (ج) مه کړه، ماران به یې ټک وهي، د مرغیو په بچیانو پسې خو ماران ډېر ګرځي او ډېر ماشومان یې ټک وهلي او وژلي دي.
ګورئ، ستاسو بچیان یو بل کارهم کوي، هغه د خان لالا په باغ کې له ونو شنې منې شکوي، چې دا له یوې خوا ډېر ظلم دی او له بلې خوا د شنو منو خوړل

ketabton.com - The Digital Library



روغتیا ته ډېر تاوان رسوي. هغه خان لالا ډېر اعصابي سړی دی، هسې نه چې د منو شکولو په وخت کې یې لاس په لاس ونیسي، ډېر بد به یې ووهي او بیا به تاسو پرې خوابدي شئ خبره به د لویانو تر لاڅې ورسیږي.

کله به چې پیوستون او عرفان خپلو کورونو ته له ساتېري وروسته ولاړل، عرفان خو ډېر شوخ ؤ، پلا ر به کله کله واهه، خو پیوستون ته به چې کله پلار غوسه شو، د مور اړخ ته به ورنېږدې شو او مور به یې ورته وویل:

سړیه! ولې دومره پرې غوسه کېږې! یو زوی مو په څه خواریو په زیارتونو او تعویذونو موندلی دی، دا خو ( د ورکې مېلې ګل دی ) نو کله، چې دا خبرې به د پیوستون مور خپل خاوند ته وکړې، د ده غوسه به سړه شوه خو عرفان او پیوستون د خپلو پلرونو او میندو په نصېحتونو او وهلو باندې دومره چورت نه واهه، خپل ساتېري ته به یې د معمول په شان دوام ورکوه.

عرفان یو ماسپښین ناوخته د پیوستون د کور په وره کې نارې وهي، پیوستونه، راووځه! چې د سیند غاړې ته ولاړ شو! نن ډېره ښکلې ورځ ده زمونږ د کلي لارې کوڅي د اوریدلي باران له امله ښکلې شوېدي پیوستون راووت او د عرفان سره یې ترلمنې ونیول، د سیند ترغاړې په ډېرې چټکۍ سره ولاړل. هلته ډېرو کلیوالو د دوی په شان همزولي ماشومان د سیندغاړې ته د ساتېري لپاره راوستي وو. د سیند یوه نیمه څپه ترغاړې را اوښته عرفان او پیوستون ورته په هوس کې شول، ویې ویل:

دا زمونږ سیند هم عجیبه غوندې دی، کله کله داسې شور وکړي، لکه د خان لالا اس چې (وشنېږي ) دوی دواړو سره وویل: راځه، لږ کوزې خواته ولاړشو: دلته ټول سپینږیري او ځوانان راغلي، بیا به مو میندو او پلرونو ته ووایي، چې دوی په یوازې توګه د سیند غاړې ته تللي، دوی همداسې وکړل. له کلیوالو ډېر کوزې خواته ولاړل هلته د ساحل په غاړه کېناستل. دوی د سیند اوبو ته ډېر څك وو، ګوري، چې ببلا ببل کبان پکې اوړي را اوړي. دوی په خندا خندا ترې خوند اخېست او ماشومه مینه یې پرې ماتوله، عرفان، چې ډېر ځیرك ماشوم ؤ، ګوري، چې د سپوږمۍ روڼ تصویر د سیند پرسینه پروت دی، عرفان پیوستون ته وویل: ای، دلته فکر وکړه! ته رانېږدې شه! هغه سپوږمۍ ګوره، چې هغه بله ورځ مو سره

ketabton.com - The Digital Library



یادوله، چې هر ماسخوتن زما او ستا په سر ولاړه وي، خو په رانیولو یې تراوسه لا نه یو برلاسي شوي.

نن ګوره سیند ته راکوزه شوې، پیوستون ورته وویل: هو والا ومې لیده، دا هماغه سپوږمۍ ده، دلته څه کوي، څنګه راکوزه شوې ده، دا خو عجب کار وشو، ما د شپې لخوا ډېره هڅه پسې کړې، خو رانیوی مې نشوه، عرفان ورته وخندل، ښه! چې داسې ده، اوس څنګه کوو، دا خو چې ونیسوو، والا ډېرلوړ کار به مو کړی وي او ډېره نېږدې ده.

د لاس کاڼی هم پرې لګیږي. د سیند ژۍ ته ده څنګه کوو چل راښایه هله زرکوه! پیوستون ورته وویل:

په دې کې چل نور څه وي، زه پسې ورځم رانیسم یې، عرفان ورته وویل:

سیند به دې ډوب کړي، تاته مور اوپلا ر نه دي ویلي، چې ویالو، سیندونو او څاه ګانو څخه ځان ژغوره، هسې نه ډوب دې کړي، مړ به شې، پیوستون ورته وویل:

نه دغه خو ډېره نېږدې ده، زما لاس هم ورسیږي، زه یې رانیسم، ته ډارن یې، عرفان ورته وویل:

چې داسې وي ته یې راونیسه، زه خو دا کار نشم کولای، پیوستون ورته وویل: ته یې ګوره، زه غلی غلی ورځم، پیوستون همداسې وکړل، ورو ورو د سپوږمۍ په تصویر پسې په اوبو کې ور روان شو، اوبه یې قدم په قدم ترسینې ورختې د سپوږمۍ تصویر ترې په سیند کې په منډه ؤ، هغه و، چې یو ناڅاپه یې پښه په سیند کې په ژور ځای وربرابره شوه، اوبه یې په سر واوښتې عرفان په چیغو چیغو د خپلې ماشومانه مینې له کبله د پیوستون نارې د کلیوالو ترغوږونو وروړسولې.

ketabton.com - The Digital Library



# عجيبه ويره

سپين کرولا موټر د خوست ولايت محکمې مخې ته ولاړ و، خلك يې هك پك کړي وو، ګڼ شمېرخلکو يې ننداره کوله او د موټر په اړه يې ډول، ډول خبرې کولې. موټر ته څوك له ويرې نه ورنيږدې کېدل، ولاړو خلکو له ليرې د سپين موټر ننداره کوله. هر څوك به چې پر لاره تېرېدل، نو د موټر تماشې ته به پښه نيولې شول، د کرولا موټروان سودا اخېستو ته تللی ؤ، د موټر دروازې بندې وې. له لږ ځنډ وروسته هغه مهال څو تنه وسله وال واکمنان په ډېره بېړه د موټر خوا ته نيږدې شول او پر شاوخوا خلکو يې غږ وکړ: دا موټر د چا دی؟ خو چا مثبت ځواب ورنه کړ. کله چې وسله والو کسانو ته د چا له خوا ځواب ورنه کړل شو، نو يې په ولاړو خلکو پسې سترګې برګې کړې او ورته يې وويل: تاسو د څه لپاره ولاړ ياست ايا دلته کوم خيرات دی او که کوم پاړوګر راغلی دی؟

خلك له ويرې خواره واره شول، خو بيا يې هم له لږ لېرې واټن څخه ننداره کوله.

وسله وال لکه وږي زمريان چې له ښکار څخه تاوېږي راتاوېږي، بيا يې هم د موټر ډرايور ته څو نارې نوره وکړې، خو چا ځواب نه ورکوه، دوی په زور سره د موټر د دروازو لاستې راکش کړل، خو د موټر دروازې لېرې نه شوې. بالاخره يې د ټوپکونو په کنداغونو د موټر د څنګ دوې ښيښې ماتې کړې او د دروازو بټنې يې پورته کړې، په ډېره بېړه يې په موټر کې پلټنه پيل کړه، ټول سيټونه يې وپلټل، خو هېڅ يې په کې پيدا نه کړل.

دوی يو بل ته وکتل او يوه وسله وال بل ته وويل: عجيبه ويره ده، په خدای (ج) دا ډول پېښه خو زما لپاره حيرانوونکې ده، لا هم موټر ښوري زلزله هم نشته.

په دې وخت کې د موټر څښتن چې له دېرش متری څخه يې په خپل موټر سترګې ولګېدې، ويې ليدل، چې وسله والو کسانو يې دروازې پرانيستې او په پلټلو يې بوخت دي. د موټر ماتې ښېښې يې تر نظر ورغلې، چې نينې نينې پرتې وې او دا نينې نينې ښيښې داسې ښکارېدې تا به ويل، چې د ځونډورې پېغلې د مريو سپين هار شليدلی دی. د زړه سوي له وجې يې بېړنې قدمونه واخېستل، موټر ته له

ketabton.com - The Digital Library



رسېدو وړاندې يې پر وسله والوغږ وکړ، ملا صاحب! په دې موټر څه کوئ خدای (ج) ته ګورئ دا ښيښې مو ولې ورماتې کړې دي.
کله چې وسله والوکسانو شاته وکتل، د موټر څښتن ته يې د ټوپکو خولې ور واړولې او ورته ويې ويل:
ځای پر ځای ودرېږه او نږدې رانه شې! د موټر څښتن هك پك ودرېده، رنګ يې د مني د توت د پاڼو په شان زېړ وتښتيده او په لړزېدلي غږ يې وويل:
اخر ملا صاحب څه شوي دي؟
وسله والو بيا په قهريدلي غږ سره ورغبرګه کړه: خبرې مه کوه! په دې وخت کې د وسله والو مشر په نورو ساتونکو غږ وکړ، هله د هغه سرې لاسونه ور وتړئ او يو څو لغتې يې هم ووهئ، دا څه سرګرداني يې مونږ ته جوړه کړې ده، دا يو ساعت کيږي، مونږ او ښاريان يې په شك او وېره کې اچولي يوو. وسله وال د موټر څښتن ته ورغلل لومړی يې يو څو لغتې وواهه او بيا يې د ده په خپل څادر لاسونه ور وتړل، موټروان که هر څو زارۍ ورته وکړې اخر څه ګناه مې کړې! صرف مې موټر درولی و، څه خبره ده، ملا صاحب راته ووايئ!، چې زه پوی شم؟
دوی ځواب ورکړ:
ته نه ګورې، چې موټر دې ټوپونه وهي او څه ملنډې يې پيل کړې دي. ده ورته وويل
:
تاسو ما خوشی کړئ، چې زه د موټر ډېکۍ درته خلاصه کړم. دوی يې هم لاسونه ورخلاص کړل او ورته يې وويل:
د موټر ډيکۍ خلاصه کړه.
موټروان له جيب څخه کيلي راوخېسته.
وسله والو يوه بل ته وکتل او په خپلو کې يې اشارې وکړې، چې تاسو لېرې شئ.
کله چې موټروان ډېکۍ خلاصه کړه، نو ګوري، چې په ډېکۍ کې دوه اهلي سپې پراته دي او ژبې يې ايستلې، په ډېرې تيزۍ سره ساه ګانې اخلي. په دې وخت کې وسله وال کسان او خلك عجيب پاتې شول او وسله والو يو ځل بيا په موټروان باندې د وهلو پيل وکړ او ستغې سپورې يې ورته وکړې، تا پر مونږ باندې څه رشخند وواهه او بله دا چې څوك د حيواناتو سره دومره ظلم کوي، چې تا په دې بنده ډېکۍ

ketabton.com - The Digital Library



کې حصارکړي او لږه هوا هم نه ور داخلیږي. که دا اوس مړه شوي وای دا ازار نه لري، ته قانوني مجرم یې، له حیواناتو سره څوك دومره ظلم نه کوي. موټروان په ژړغونې اواز ورته وویل:
ملاصاحب! دا کورني سپي یو دوست راکړي مونږ بدي دار خلك یوو، د شپې له خوا پرې د کورساتنه کوو، پدې خاطر یې کور ته وړم...
وسله والو یې خبره غوڅه کړه او ورته یې وویل: ډېر ژر دا سپي خوشي کړه! موټروان له ویرې یوازې ورته وویل: په سترګو صاحب !
په ډېره بیړه یې سپي راښکته کړل او په ښا ر کې یې خوشي کړل او سپیو په ډېره خوښۍ سره ساه ګانې واخېستې او په ښار کې په ترپکو شول.

## پردۍ هدیره

هغه د مور او پلار ډېر نازولی زوی و، ځکه، چې له څلورو لورګانو وروسته خدای تعالی پرې لورولی و. په ډېرو نازولو زیارتونو باندې یې ډوډۍ پخې کړې او پر ولاړو لکړو ځوړندو ګلدارو دستمالونو ته یې ډېرې غوټې ورکړې وې، چې د خدای په مهربانۍ سره یې اصف پیدا شو. دی به مور او پلار د سوي لاس په څېر ساته، یوه شېبه یې هم له سترګو نه پناه کوه، همداشان یې په ساړه او لمر نه واهه.
اصف ښوونځي ته د تلو شو، خو تر شپږم ټولګي پورې یې لا زده کړې نه وې بشپړې کړې، چې د ځمکې د دعوې پر سر یې پلار تربورانو واوژه. اصف په دې وخت کې خپلو ترونو هم بېل کړ او د کورنۍ درانه غمونه یې د تنکۍ ځوانۍ پېټې شول. د دښمنۍ او بې کسۍ له وجې یې ښوونځی پاتې او د یادو پېټیو چلولو ته یې مخه کړه. د اصف د پلار له مړینې وروسته یې مور د ده ډېر خیال ساته.، چېرې یې نه پرېښوده، ځکه ویریده، چې د خاوند په څېر یې اولاد هم د ګولیو خوراك نه شي.
د وخت په تېرېدو سره چې اصف لږ زلمکی غوندې شو، نو د خپل پلار د کسات اخېستو فکر ورسره پیدا شو. یوه ورځ داسې هم راغله، چې په (جمه) یا د کلي کلیوالو ځوانانو د بنډار په ځای کې د خپلو همزولو سره ناست و، د بنډار پر مهال یې د تره زوی د خپل پلار د وژلو پېغور ورکړ، په دې وخت کې خدای شته، د بدن په

ketabton.com - The Digital Library



هر وینښته یې خولې راووتې، کور ته ځوړند سر او زنګیدلی روان شو. کور ته د ننوتو پر مهال یې مور د ده تریو تندی او وچې شونډې ولیدې، سمدستي یې پرې غږ کړ، زویه !

ډېر پریشانه یې، خیرت خو به وي؟

ده ورته وویل:

مورې! هو، خیرت دی، مونږ چې داسې د تره زامن لرو، دښمن ته مو اړتیا نه شته.

– ولې زویه؟

– هسې مورې، هغه اکبر څه دی، دا دوهم ځل دی، چې د بابا د وژنې پېغور رانه کړي، په خدای داسې مغزه مې ورته خراب دي، چې زما له لاسه به اخېر ووژل شي، ځکه د بیدیا بلا دومره سخته نه وي، لکه د کور بلا.

موریې په ډېر مهربانه غږ ورته وویل:

زویه، ته راشه!

دا ډېرې وړې خبرې دي، په دې پسې سر مه ګرځوه، خدای مهربان دی، هرڅه به ښه شي.

– زویه هغه متل دې نه دی اوریدلی، چې ښو ته ببړه کوه او بدو ته صبر. زه به یې پلار ته ووایم، چې زوی ته نصیحت وکړي، چې د بیا ځل لپاره تاته پیغور درنه کړي.

– مورې دا خبرې او پیغورونه په خدای که زه په سر وړی شم یا به خپل پلار بدل اخلم او یا به د خپل تره زوی وژنم، چې د بیا ځل لپاره پیغور راکړي.

اصف به همداسې د خپلو همزولو سره ناسته پاسته کوله، په دې وخت کې هغه د چا په خبره چې زلمی غوندې شو، نو یې ټوپك هم ګرځاوه. مور به یې ورته ویل :زویه! ټوپك په دې خاطر ګرځوه، چې د ځان ساتنه پرې وکړې، نه دا چې د پلار بدل واخلې، ځکه ډېر ظالم وخت دی. مونږ بدي دار یوؤ دښمن هځه کوي، چې تا هم ووژني. یوه ورځ داسې هم راغله، چې اصف د معمول په څېر د خپلو همزولوسره ناست و، په دې وخت کې ښه بنډار ګرم و، هغه د تره زوی یې هم ناست و، خندا ګپ شپ روان و، اصف ډېرې سترې خبرې کولې هغه د تره زوی یې په کنایي شکل سره د بنډار په مینځ کې وویل: ځینې خلك له ځانه لویې خبرې کوي او شاته پام نه کوي،

ketabton.com - The Digital Library



چې څه راته په میراث پاتي دي. زه خو که د ځینوکسانو پر ځای وای، نو په خدای که د الف نه مې یي هم ویلي وای. اصف په دې وخت کې د ده په خبرو پوی شو، خو رنګ یې واوښت ،تك سور شو، شونډې یې له قهره وچیچلې، ټوپك یې له زنګنونو راکوز کړ، په دواړو لاسونو یې ودراوه او سر یې پرې کېښود. اصف فکر واخېست. په دې وخت کې پرې یو ملګري غږ وکړ، اصفه! څنګه داسې چورتي غوندې شوې، ګپ لګوه!

اصف ورته وویل: ولالږ غوندې مې سر درد وکړ.

هغه د تره زوی یې بیا یو ځل وویل: د کړو وړو خبرو توان نه لري. په دې سره د اصف حوصله او صبر پای ته ورسیده. سمدلاسه اصف ټوپك پرې راواړوه ډزې یې پرې وکړې، هغه د تره زوی یې ځای پرځای وواژه. های وای سورې نارې شوې مه اصفه، دا دې څه وکړل؟ اصف په منډه د کور په لوري روان شو.

کورته د ننوتو پرمهال یې مور ته نارې وکړې، مورجانې پښې وباسه، هغه د سپي زوی مې درته واوژه!

مور یې ورته وویل: ما زویه، دا دې څه وکړل! هله نو بیړه کوئ، چې ځانونه خلاص کړو. اصف او د کورنۍ غړي یې د ماما کره ولاړل. هلته د ماماګانو کره یې شپې او ورځې تېرولې. مشرماما به یې اصف ته ویل: (خوریې ګړه) ته خفه نه شې، ځوانان همداسې کوي په خلکو ډېرې سختې شپې او ورځې راځي. دا وختونه به خدای پاك تېرکړي، ته د ډېرې هستۍ څښتن یې، ډېره ځمکه او جایداد لرې، هغه چې درته خرڅه کړې، ستا ټولې اړتیاوې پرې پوره کیږي. ښه وخت دې پرې تیریږي، خپلې مزې چړچې کوه!

اصف: په تت غږ او خواره خوله ورته وویل: ماما! کله کله انسان ډېرڅه د مجبوریت له لاسه وکړي. مونږ مجبور یوو، چې هرڅه موکړي او یایي کوو. خدای مهربان دی، هرڅه به اسان کړي. هو! ستا خبره سمه ده، چې ان شاءالله که خدای کول، زه به له خپلو ترونو څخه ځمکه بېله کړم او ټوله به خرڅه کړم، خپل ژوند به پرې جوړ کړم کلی او کور هسې هم رانه پاتي شو. د ژرندې اوجومات په کیسه کې نه یم.

یو وخت یې ماما د اصف ترونو ته ورغی، ورته یې وویل: زمونږ خوریي غواړي، خپل حق له تاسو بېل کړي. تاسو څه تصمیم لرئ؟

ketabton.com - The Digital Library



هغې ورته وویل زموږ وراره دی، په سر سترګو خو یوه خبره شته، چې خرڅلاو ته جایداد نه ورکوو، ماما یې ورته وویل:
دا د ده خپل حق دی، چې څه پرې کوي، تاسو ورسره غرض مه کوئ!
کله، چې بېرته راستون شو، نو ماما یي اصف ته وویل:
ستا ترونه ډېر کبرجن دي، خدای به یې کبر زوال کړي، یوه خبره هم نه مني.
اصف په غوسه شو او ویي ویل: ماما! زما خپل حق دی، زه چې هر څه پرې کوم، دوی زما سره هېڅ کار نه لري.
ماما یې یو ځل بیا ورته وویل:
د کلي څو مخور سپینږیري به ورولېږوو، ګوندي پدې سره غاړه کیږدي، د مشرانو جرګه یې هم ور ولیږله، خو د اصف ترونه په هغه پخوانۍ خبره ټینګ ولاړ وو. کله چې اصف د مشرانو څخه هم ناهیلې شو، ماما یي هم غږ پرې وکړ، خوریي نه مې درته ویل، ترونه دې ډېرکبرجن دي، هماغه بابولالې غږوي. اصف ډېرخفه شو او اندېښنو واخیست، په ذهن کې به یې خدای زده څه د قهر طوفانونه په څپو وو، اصف پدې وخت کې خپلې خویندې هم واده کړې وې د هغې د ولور پیسې یې په لاس کې وې. په هماغه یې ښه ګوزاره روانه وه. د ماما یې هم ښه کار جوړ و، اصف به کله کله له ځانه سره لګه لیونی یو نیمه خبره کوله او لاس به یې هم اچاوه. د خپلو ترونو لپاره به یي په پلانونو باندې کار کوه، دا څنګه ترونه دي، ماته خپل حق نه راکوي، په خدای قسم چې دوی مې وژلي نه وي.
مور به یي ورته همېش د سترې حوصلې غوښتنه کوله، خو اصف د مور په خبره کې نه و، په مغزو کې یې د ترونو له لاسه د قهر ژرندې په څرخیدو وې، ډېرو چورتونو او صبر نوره حوصله ورتنګه کړه. داسې ورځ راغله، چې ټوپك یې په اوږه کړ، له مور او ماما اجازې پرته یې د هغه منځوي تره ته لاره ونیوه، کوم چې د جایداد د خرڅلاو په مسله کې ډېر ټینګ و. خپل تره یې په داسې مهال کې وواژه، چې کور ته پر لاره و، اصف کورته راغی، مور او ماما ته یې وویل:
چې هغه سرزوری تره خو مې وواژه. اوس به پته ورته لګیدلي وي، چې زما حق شته او کنه؟ دوی زما میراتې ته ناست دي، زه به دوی ټول میرات کړم، چې ټول جایداد ترې پاتې شي. مور یې په دواړو لاسونو مخ وواهه، یو سوړ اسویلی یې وکیښ ما

ketabton.com - The Digital Library



ظالمه! دا دې څه وکړل! کله د یوه وي او کله بله، اخېر نور خو دا د ځمکې پرمخ ځای هم ورکيږي.

اصف ورته وويل:

مورې، مورې! سر مې مه خوږوه! دا هر څه د مجبوريت له وجې کيږي. ماما يې هم ورته سخت په غوصه شو، داسې کار څوك نه کوي، خو د ماما په زړه کې يې ډېر رازونه پټ وو، چې يو خدای پرې خبر و، چې د خپلې خور او خوريې سره څه ډول نيت لري، د لږ وخت په تېريدو سره يې مور پدې فکر کې شوه، چې اصف نامزاد کړي، ځکه دوی بدي دار خلك وو، هيله يې دا وه، چې ګوندې د زوی يې نارينه هلکان پيدا شي، لږ به د اصف څنګ پرې ډك شي.

پدې خبره يې د خپل ورور سره سلا وکړه، ورور يې ورته وويل: بيخي سمه ده، خورې دا ښه خبره ده، بس هڅه به مو دا وي، چې اصف د ښې کورنۍ سره نمزاد کړو همداسې وشول، ماما يې يو چېرته اشنايان لرل، له هغې سره يې د اصف لپاره د نمزادۍ خبره وکړه، اصف نمزاد شو لږ وخت وروسته يې مور وغوښتل، چې اصف ته ډېر ژر ډولۍ راوړي، له خپل ورورسره يې دا خبره شريکه کړه، هغې هم ورسره ومنله، اصف پداسې حال کې دی، چې هېڅکله د ګټې وړ نه دی، ځکه د خويندو د ولور پيسې يې يو څه مصرف کړې او باقي پيسې به د ښځې ولور ته ورکړي، ماما يې په داسې خيالونو او چورتونو کې ډوب و، چې ګوندې د اصف د جايداد پيسې لاس ته ورشي، ولې هغه جايداد يې هم د تره په وژنه کې وبايله، په اوس کې اصف نور د ده لپاره په زخم سکروټه وه او په سپينه لمن داغ و، ځکه دی د اصف د بدي دارو له سختو ګواښونو سره مخ و.

او له بله پلوه يې له اصف څخه نوره د ګټې تمه لنډه شوه، نو يې تصميم ونيو، چې د اصف د وژنې پرسر د ده دوښمنو او سخرګنۍ سره معامله وکړي ترڅو نور د ستم او بدنامۍ پيټې څخه يې اوږې سپکې شي، چې د جينۍ د لوړ ولور دعوه وکړي، هغه و، چې ماما يې خور او اصف ته خبره وکړه ستاسو دوستان وايي:

چې مونږ مو دوکه کړي يو، جينۍ په ډېر ټيټ ولور تاسو ته نمزاده کړې، نورې پيسې غواړو. پدې وخت کې اصف او مور يې ډېر په غوسه شول، عجيبه خبره ده، په کلي قوم کې، چې څه دستوردی، په هغې قيمت مو ورسره دوستي کړې بيا نورې

ketabton.com - The Digital Library



خبرې پکې ځله کوي؟ دا خلك ډېر كبرجن دي. ماما يې ورته وويل: بس همداسې خبرې دي نو ځنګه وکړو، هغه د کنډو خلك دي، مونږ او تاسو ور ته اړ يوو، يو ځل چې لاس ترې ورغوو، بيا به ورته ګورو، اصف او مور يې د ماما په چلند او مرموزو حرکتونو باندې شکمن شول، چې پدې کار کې له دوی سره ټګي او برګي کوي، نو اصف خپل ماما ته ګوت ځنډنه وکړه، مور، اصف يې د ماما له کوره زړبدي ووتل او په خپله يې ملاوې وتړلې، چې د جينۍ کورته ورشي، هم هلته ورسره ستونزه حل کړي. ماما يې د اصف له ګوابنې ځخه وډار شو، هسې نه د خپل په ځېر ورسره چلند وکړي، دی له دې وړاندې د اصف له ترونو او ترو زامنو له ګوابنونو ځخه ډېر ترسيدلی و او ځو ځلې يې ورته ويلي، چې زمونږ دوښمن ته راته ساتې، ماما يې پدې فکرونو کې ډوب و، چې داسې کار سرې بايد وکړي، چې د اصف دوښمن هم راضي شي او يو ځه پيسې هم ترې لاس ته راوړم، ماما نمك حرامه يې د اصف د وژنې پرسر د ده بدي دارو او سخرګنی سره معامله وکړه، اصف چې د خپل سخرګنۍ کره تللی و، مور يې شېبه په شېبه له سترګو نه ايست، په هر لوري به چې تلو، مور به يې ورپسې سترګې اړولي يوه شپه يې مور د ماسختن په لمانځه ودريده، کله يې چې نيت وتړه، فکر يې وکړ، نيم ساعت وشو، چې اصف مې نه دی ليدلی، په بيړه يې سلام وګرځوه.

پاس مانۍ ته پورته شوه، ورو يې د مانۍ دروازه نېمکښه ورلېرې کړه ګوري، چې اصف يوه پښه په بله اړولې، د شنه چای پياله هم ورته ايښې ده، له اوښو او دوستانو سره په ګپ شپ اخته دی، نو غلې د مانۍ ځخه راښکته شوه، ترځو د پښو ښکالو يې هم ځوك وانه اوري.

مور يې په لمانځه ودريده، ايله دوه رکعته يې نه وو پوره کړي، چې په مانۍ کې ورو ورو دربه يې تر غوږ شوه، دغه دربه شېبه په شېبه پسې زياتېدله، تر هغې چې د مور په زړه کې يې شك پيدا شو، سمدستي يې سلام وګرځاوه، مانۍ ته يې ورمنډه کړه، دروازه يې په دواړو لاسونو ووهله، خو د شا له پلوه يې کلف کړې وه.

چيغې يې کړې: اې، د کلي خلکو! اصف يې مړ کړ، له مانۍ ښکته شوه، د باندې يې نارې سورې وکړې، های، مسلمانو! ځوك شته، کنه! زوی يې رانه مړکړ!؟ هلته يوسپين ږيری چې تبر يې په لاس و، د اصف مور هيبتناکو نارو پاځولی و.

ketabton.com - The Digital Library



د اصف مور تور سر او تورې پښې يې وليدې، ورته يې وويل: څه وشول، خورې!
هغه ورته وويل: هله وروره زوی يې رانه مړکړ.
چا؟چا؟
په همدې سره د مانۍ دروازې ته راورسيدل، د مانۍ دروازه ډېره کلکه بنده وه، سپين ږيري سړي له تبر څخه کار واخيست او دروازه يې ورما ته کړه، کله چې په دروازه ورننوت، نو سمدسي د اصف اوښې په سپين ږيري تمانچه راوښکله، ورته ويې ويل:
چې شور وکړې، وژنم دې، مور يې د اصف خواته ورمنډه کړه.
ګوري، چې اصف زبېږ رنګ لکه د مني د توت پاڼه پورت دی، ساه يې وتلې او په مړۍ کې يې د اوښې د ګوتو خپونه له ورايه ښکاري، د اصف ښځه، چې د اصف په وژنه خبره شوه، چيغې او نارې يې د اصف مور له نارو سره بدرګه کړې هيجاني او ويره وونکو سوو نارو ټول کلی له خوبه پاڅه و او لاس تر زنې يې کينوه. د اصف اوښې د شپې له کوره ووتل. د اصف ښځه يې هم په وهلو او ډبولو له ځان سره بوتله.

سبا ته کليوال خبر شول، چې د يو ميلمه سره داسې بد چلند شوی، نو د قومي دستور پر بنسټ يې د اصف د سخرګنۍ کور او ټول سامان الات وسوځول. له هغې وروسته د سيمې خلك د اصف له جنازې سره ملګري شول، ترڅو يې پلرني ټاټوبي ته يوسي، مور يې د قابيل او هابيل له واقعې سره مخ شوه، ځکه په کلي کې يې هېڅ دوست او خواخوږی نه و.
ورور يې هم ورسره سخته بې نمکي وکړه، خو د هغو دوستانو کره يې يووړ، چې دوې لور ګانې يې ورته واده کړې وې، کله چې د اصف مړی د دوستانو کره راوړل شو، نو دوستانو يې د اصولو له مخې د ده عزيزانو او ترونو ته خبر ورکړ، تر څو د اصف مړی په خپل پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شي. عزيزانو يې د اصف د مړي له ښخولو څخه انکار وکړ.
دوستان يې مجبور شول، چې د اصف مړی د ښار په هغه هديره کې خاورو ته وسپاري، چې د ځان وژونکو، بې کسه، بېوسه او بې سرپرسته خلکو مړي په کې ښخيږي.

ketabton.com - The Digital Library



## بې وخته واده

هغه د ښوونځي په دوولسم ټولګي کې درس ویلو له ده سره په ټولګي کې ډېر داسې ځوانان هم وو، چې وادونه یې کړي او یا نورو ته د کورنۍ لخوا د وادونو بندوبست روان و. یوازې رحیم په ټولګي کې نه و، بلکې د ده په څېر نور ځوانان هم وو، چې وادونه یې د اقتصادي وضعیت د خرابولي له امله کړي نه وو، خو رحیم یوه خور درلوده او په لسم ټولګي کې وه، پلار یې په ښار کې د بنجاره توکو هټۍ درلوده او په دې ډول یې خپله کورنۍ ساتله.

یوه ورځ رحیم له ښوونځي یو څه وختي رخصت شو، ډېر خفه معلومېده، له ځانه سره یې اوتې بوتې ویلې او ډېر په قهر و، ځکه هم ټولګیوالو یو ځل بیا د نورو ورځو په څېر په عذاب کړی اولمسولی و، ټولګیوالو به هر وخت ورته ویل: رحیمه ! نور خو زوړ شوې، پلار ته دې ووایه، چې واده درته وکړي! په ځوانۍ کې چې له واده خوند وانخلې، نور یې بیا څه کوې، په کور کې دې خور شته، واده درته پرې وکړه!

همدا خبرې وې، چې په دې ورځ یې رحیم کور ته ډېر په غوسه راوست.

کله، چې مور ولید ، نو یې ورته وویل :

رحیمه زویه! ستړی مه شې!

رحیم له ډېرې غوسې څخه د مور ستړې مه شې هم وانه خېسته، مور یې بیا غږ پرې وکړ، رحیمه زویه! په ښوونځي کې د له چا سره لانجه کړې، که څنګه داسې په غوسه ښکارې؟

ده ورته په ځواب کې وویل:

مورې، مورې ! له تا او پلار څخه زه ډېر خفه یم، ځکه دا څو کاله کیږي، چې زه درته وایم، چې ما ته واده وکړئ، تاسو مې هېڅ غم نه کوئ.

– زویه هغه د پښتنو متل د نه دی اوریدلی: ( چې کال ګوره، لوړ واهه! ) زویه! تا ته خو مونږ ویلي وو، چې ته له خیره پوهنتون خلاص کړې، بیا به ګورو اوس خو ګرانه ته په خپله واده غواړې داسي وخت به راشي، چې بیا به غټ غټ خلك کور ته

ketabton.com - The Digital Library



جرګې راليږي، وايي به چې مونږ رحيم ته لور او خور واده وو، داسې وخت به ضرور راځي ان شاءالله خو ته يو څه غاښ ټينګ کړه!

– مورې! دا څه د غاښونو ټينګول دي، زه وايم: د غاښونو په ډېرو ټينګيدو سره به مې غاښونه ټول توی شي. دا دي، څو کاله تېر شول، چې تاسو ما ته د واده ژمنه راکوئ!

– زويه! ګورې نه، زرلښته خور دې هم کوچنۍ ده، لا يې د پېغلتوب دوره نه ده بشپړه کړې او هغه هم په لسم ټولګي کې ده، که خدای کول هغه به هم پوهنتون ووايي او بيا به د واده غم کوو.

– مورې دا خو زه نه منم، زما ټولګيوالو اکثرو وادونه کړي دي، ما ته يې هم وکړئ. دوی هر وخت ما ته پيغور راکوي، چې تا ته واده نه کوي، نو زه بيا ګرم يم، اوس خو لوی يم، په کار ده، چې واده راته وکړئ!

– زويه! ستا خبره سمه ده، خو ستا ټولګيوال به شتمن خلك وي، دوی به د ښه ژوند د تېرېدو لپاره د ډېرو شتو خاوندان وي، زه وايم، چې پلار دې اوس مهال ايله بيله يوه هټۍ لري، په دې وخت کې هر څه د اسمان سرته ختلي، ډېره لويه قيمتي ده. پلار دې ايله د کور لګښت پوره کوي، ته هم په زده کړو بوخت يې، بل مو هېڅوك د ګټې وټې نشته. که چېرې تا ته واده وکړو، نو اړتيا ده، چې له تا څخه درس پاتې شي او په خوارۍ مزدورۍ لاس پورې کړې، ته لږ صبر وکړه، خدای مهربان دی. زويه! واده په اوسني وخت کې ډېر لګښت غواړي، د پښتنو وطن دی، دومره يو څه به د خلکو د خوراك او څښاك لپاره هم تياروې.

– مورې، پرېږده! دا خبرې تکراري دي، هر وخت په دې لګيا وې، په دې وخت کې يې پلار کور ته راننوت، د رحيم مور سترې مه شی ورکړ.

خو رحيم هېڅ غرض پرې ونه کړ، د خپلو ټولګيوالو او کليوالو خبرې يې په ذهن کې راتاو شوې؛ پلار ورته وويل:

چې بيا مو څه راخېستي دي؟

مورې ورته وويل:

رحيم واده غواړي، هغه زړې خبرې ډنګوي.

ketabton.com - The Digital Library



پلار یې ورته وویل: یاره! یو خو رحیم ځوان دې ته پام نه کوي، چې اوس مهال د واده دی او که د زده کړې!

رحیم له غوسې څخه تك سور شو او په ولاړې ودریده. مور او پلا رته یې ګوتڼه څنډنه وکړه، تاسو د تربورانو څخه هم نه شرمیږئ، دوی خپلو زامنو ته وادونه کړي، تاسو ولې دومره فکر نه کوی، چې خپل زوی ته واده وکړئ! له تربورانو هم شرم دی، زه د وروستۍ خبرې په توګه تاسو ته وایم، چې ماته واده وکړئ، ګني په لوی غم به مو واړوم، بس دا دی زه درنه ولاړم. رحیم په غوسه له کوره ووت.

مور او پلا ر یې د رحیم د واده په سر ډېرې خبرې سره وکړې، د تربورانو خبره او نور اړخونه یې راوخېستل. په هغه یې بحث سره وکړ: دوی بالاخېر خبره پدې سره غوټه کړه، که هرڅه کیږي، که له زرلښتې څخه درس پاتي کیږي او که له ده څخه پوهنتو ن، ځکه د پښتنو او تربورانو وطن دی، هسې نه په بله بلا واوړو، د رحیم مور او پلا ر د واده په لټه کې شول، هغه ؤ، چې په خپل قوم کې له ډېرو شتمنو خلکو سره یې د رحیم د واده پر سر خبرې وکړې. دوی د خپلې لور او زوی د باسوادۍ په هکله ورته وویل، خو هغو یوازې د رحیم مور او پلا ر ته ویل:

چې مونږ خپله خور لور داسې کسانو ته نه ورکوو، چې ښه پرېمان شته او جایداد ونه لري او یا په حکومت او نورو لوړو ادارو کې دنده ونه لري. له غریبو خلکو سره مونږ واده نه کوو.

د رحیم پلار او مور د ډېرو هڅو په پایله کې د داسې یوې کورنې سره کوژده وکړه، چې هغه په اقتصادي لحاظ دوی ته ورته وو. د هغې کورنۍ ټول غړي نا لوستي وو، زرلښته یې د یوه بې سواده ځوان په نامه کړه، په لسم ټولګي کې ترې درس پاتي شو، رحیم، چې په دوولسم ټولګي کې و، یوه نالوستې جینۍ یې ورته وکړه، د واده پر مهال د رحیم د خور په زېوراتو او نور خوراك او څښاك باندې ډېر لګښتونه وشول، حتی د رحیم پلار ډېر پوروړی شو. کله، چې رحیم واده کورته کړ، اقتصاد یې ډېر ښکته راغی، رحیم د څه وخت لپاره د خپلې مېرمنې سره شپې او ورځې تېرې کړې، کورکې یې داسې څه نه درلودل، چې پرې ګوزاره وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



ټول شته يې په واده ولاړل، پلار يې سپين ږيری هم و، بالاخره خپلې ښځې به ورته ويل: اخېر ځوان يې د پښتنو وطن دی، پلار دې هم سپين ږيری دی، يو څه مزدوري ځان ته پيدا کړه، رحيم به ورته ويل:

تاسو عجب خلك يئ، ما وګوره او مزدوري! ډېر سره لرې دي، زه نه شم کولی، چې مزدوري وکړم، دا خلك به څه وايي، چې يو لوست کس وګوره، چې د لاس مزدوري کوي. داسې وخت راغی، چې د رحيم پلار يو څه ناروغ شو. له دوستانو څخه يې د پلار د تداوی په خاطر يو څه پيسې راقرض کړې، په رحيم غربت لاټورې هم منګولې خښې کړې. دېته اړ شو، چې په مزدورۍ پسې ووځي.

رحيم د لاس مزدوري پيل کړه، کله به يې، چې روزانه مزدوري پيدا نه کړه، نو په ښار کې به يې د لاس ګډۍ چلوله. بس همداسې يې د کورنۍ لګښت ته اوږه ورکړې وه.

يوه ورځ داسې هم راغله، چې رحيم په مزدورۍ بوخت وو. د ده دوه تنه ټولګيوال چې تور بکسونه يې په لاسونو کې وو، سترګې يې په رحيم ولګيدې، دوی په خپلو مينځو کې سره وکتل او ويي ويل: ياره، دا هغه رحيم نه دی؟ دوی ورته ودريدل او ويي ويل: ډېر افسوس دی دا خو والله ډېر غريب شوی او هر څه تري پاتې شوي، مونږ داسې فکر کوه، چې د زده کړو لپاره به کوم بهرني هېواد ته تللی وي. دی خو زمونږ د ټولګي اول نمره و، ډېر ذهني او تکړه هلك و، هر ډول مضامين به يې زده کيدل اوس خو ډېر په بدحالت کې دی، دوی سره وويل: راځه، چې نږدې ورشوو، کله چې نږدې ورغلل، سلا م يې ور واچوه.

رحيم د دوی سلام ته وعليکم سلام ووايه، دوی ته يې سترۍ مه شی ورکړ او دواړو ټولګيوالو يې په ځانونو باندې ښې ګوتې وهلې وې، لوکسې دريشۍ،پينشاټ يې کړې او عينکې يې په سترګو وې.

رحيم پدې وخت کې ورته موسکی شو، چې هرکله راشئ، لاس يې ورکړ، انجينرانو صاحبانو! څه حال دی؟ ښه يې؟ دوی ورته وويل شکر دی.

رحيم دا فکر وکړ، چې دا خو د همدغې کار ښتنانان دي، چې دی ورسره مزدوري کوي، نو د هيلې په توګه يې ډېر ور پوري ونښليده.

– شکر د خدای دی، تاسو څنګه ياست؟

ketabton.com - The Digital Library



- بس شکر دی، ګوزاره روانه ده.
- وروره! مونږ غواړو له تا یوه پوښتنه وکړو.
- په سترګو انجنیرصیبانو! زه چمتو یم، چې ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایم.
یوه ټولګیوال ترې پوښتنه وکړه، تاسو رحیم نه یاست ؟
- ولې نه انجنیر صاحب!
- خواهېش کوم، مونږ دې وپېژندو ؟
- نا والا! تاسو څوك یاست؟
زه میرجان یم، دغه بل انور دی، ده له ځان سره څو شېبې فکر وکړ، هغه د ټولګیوالی صحنې یې سترګو ته ودریدې، نو ویې پېژندل، بېرته یې بیا په یوه او بل باندې غېږ راتاوه کړه، ورته یې وویل: ډېر ښه خوشحاله شوم.
میرجان ورته وویل، رحیمه ! باور وکړه ډېر زړه مو دربانديې وسوځیده، په ډېره بده ورځ کې مو ولیدې.
رحیم ورته وویل: دا ژوند دی، وروره دا په کې راځي.
انور ورته وویل: زده کړې د ولې پرېښودې رحیم یو څو شیبې غلی شو، بیا یې د ژوند تېر داستان په ژړغوني اوخفه اندازه کې ورته بیان کړ.
دوی ورته وخندل، یاره، رحیمه! ډېر غلط کار دې کړی مونږ هم ستا په شان د ورته برخلیك سره مخ وو، خو مونږ صبر وکړ، تحصیلا ت مو وکړل.
میرجان ورته وویل: زه اوس د خپل کلي د کلینك مشر یم او انور د ګمرك ریس دی، ما د طب پوهنځی ولوست او ده اقتصاد ووایه. وادونه مو دا یو دوه کاله کیږي، چې کړیدي، یوه پیسه ولور مو هم نه دی ورکړی، ماته هغه زمونږ د کلي لوی شتمن سړی میربازخان مفته لور راکړې یوه روپۍ ولور یې هم نه دی اخېستی. خدای (ج) شته ما طبعه هم نه وه، خو په ډېرو زارویو یې زما پلا ر او مور پسې مشران راولېږل، ټول لګښتونه ده په خپله غاړه واخېستل، حتی تردې پورې چې زمونږ د ټولې کورنۍ لګښتونه یې هم ومنل. انور ته هم هغه پخواني وزیرچې څوکاله د پلان وزارت پرڅوکۍ پاتې شوی. ښاغلي ګل محمد ، چې اوس په بهرني هېواد کې دی او کله کله وطن ته راځي، زامن یې ځینې په بهر کې لوړې زده کړې کوي او ځینې یې په نړیوال تجارت بوخت دي، د هغې لور مو ورته کړېده. میرجان

ketabton.com - The Digital Library



ورته وویل: تا خو ډېر ساده کار وکړ رحیمه! بې وخته دې واده وکړ، د خپلې لوستې خور ژوند دې هم برباد کړ، خپل ژوند دې هم د کړاونو او تکلیفونو سره مل کړ.

رحیم هك پك حیران ودرید او یو سوړ اسویلی یې وکیښ، خپل تندی یې په څپېړه وواهه، های، های! بیا یې دوی ته مخ ور واړوه او ورته یې وویل: بس هرڅوك چې بې وخته واده وکړي، زما په شان به خوار، ذلیل او خاورې په سر وي... د ژوند هره شېبه به یې د تکلیفونو او کړاونو سره مخ وي . . .

## د واده سامان

هغه له ټولو وروڼو مشر و، پلار یې په داسې مهال وفات شو، چې دی لا د ځوانۍ مرحلې ته نه و رسیدلی. پدې وخت کې یې د کور ټول درانه غمونه د ده په اوږه پراته وو، نور وروڼه یې کوچني وو، مور به یې هر وخت مرجان ته ویل: خدای مو د دومره وسي کړي، چې یو ځل تاته واده وکړو، چې د کور میرمنه مو پیدا شي، زه هم دا دی ناروغه یم، په کور کې د کالیو مینځلو هم څوك نه شته.
مرجان به مور ته په غوسه ناك انداز سره وویل، مورې! ته داسې خبرې کوې، چې زما په تصور کې هم نه راځي، مونږ غریبان خلك یوؤ نن سبا د ښځو ولور ډېرلوړدی، زمونږ له وسه تېره ده، خو خدای مهربان دی ،وخت به راشي، مرجان خشتمالي کوله، پدې به یې د کور ټول مصارف پوره کول، ده په کلي کې ډېر سنګین خوی کولو د ښو اخلاقو څښتن و او په هرچا باندې ګران و، په غم او ښادۍ کې به یې د هر کلیوال سره مرسته کوله. یوه ورځ داسې هم راغله، چې یوې کلیوالې جینې ورباندې زړه وبایله او د ده خوی او اخلاقو سره یې مینه پیدا شوه، مرجان غریبۍ او بیوسۍ ځپلی و. د مینې په کیسه کې هم نه و، د وخت په تېریدو سره یې د مقابل لوري څخه د مینې او محبت پرله پسې سیګنالونه ترلاسه کړل. ورو ورو هم د ده په زړه او وجود کې د مینې جذبو غزونې پیل کړې، داسې وخت راغی، چې مرجان له مور سره هم د واده په خبرو باندې بلد شو.

ketabton.com - The Digital Library



مور به يې هر وخت ورته ويل: مرجان زويه! خدای مهربان دی، اوس خو د ورونه هم لويان شول، دوی به هم په خوارۍ او مزدوری باندې پيل وکړي، کله مو چې پيسې پيدا کړې ان شاءالله ستا د خوښې واده به درته وکړم، ورونو يې مرجان ته همېش ډاډ ورکوه ته زمونږ مشر ورور يې، مونږ درې واړه د ملي پوځ په ليکوکې شاملېږو، يوې خوا به د ګران هېواد څخه دفاع کوو، له بلې خوا به ښه معاش لاسته راوړو، که خدای کول، کار به مو جوړ شي، تاته به ډېر ژر د واده بندوبست وکړو، د وخت په تېريدو سره د مرجان مينه له عاطفې سره زياته شوه، د مينې جذبو او احساساتو دې حد ته ورسول، چې د يو بل کورته جرګه ور وليږي، يوه ورځ مرجان مورته په څه خواريو له حيا نه په ډك انداز سره د کوژدې خبره وکړه، مور يې موسکۍ شوه او ورته يې وويل: مرجانه، زويه ! لکه چې واده ته دې زړه کيږي؟ مرجان ورته وويل: نه، مورې! دا خبره نه ده، خو...

مور يې ورته وويل:

پدې کې شرم نه شته دا خو د ثواب کار دی، ستا ژوند به هم ورسره جوړ شي، زمونږ کور به هم پرې ښکلی شي، ته چې له کومې جينۍ سره کوژدن غواړې، هغې سره به ان شاءالله نمزاد شې.

زه ورپسې جرګه ورولم. مرجان موسکۍ غوندې شو، زړه يې د مينې غزونې وکړې او عاطفه يې سترګو ته ودريده. په ذهن کې يې دهغې ډولۍ د راوړلو صحنه ترسيم شوه، نو سمدستي يې په خوله کې کيسه راغوټه کړه، مور ته يې وويل:

که څه هم په پښتنوکې د جينۍ خوښول د شرم خبره ده، خو د اسلام له نظره روا کار دی، چې دواړه لوري بايد سره رضايت ولري. مور يې ورته وويل:

مرجانه زويه! هو پخوا په پښتنوکې ډېر شرم و، خو اوس دا خبره لږ غوندې نرمه شوېده. خلك هوښيار شول، هغه رواجونه ورو ورو د مينځه تلو په حال کې دي. ځينې پښتانه له دې خبرې انکار نه کوي، ځکه دا خو نامشروع کار نه دی، بلکې ثوا ب لري، تا چې په کلي کې په کومه جينۍ لاس کېښود هغه به ان شاءالله درته نمزاد کړم د مرجان د زړه مينه له عاطفې سره ورځې تر بلې د زياتيدو په حال کې وه، په مسلسله توګه يې يو بل ته د مينې ځرکندونې کولې. مرجان بالاخېره دعاطفې مينې تر دې حده ورساوه، چې زړه په ټوکر کې ونغاړي او مورته ووايي،

ketabton.com - The Digital Library



همداسې يې وکړل، مورته يې خبره خوله کې راغوټه کړه، يو ځل يې وژويله او بيا يې ورو غوندې ورته وويل: مورې!
ژوند همداسي نه تېرېږي، زه بايد واده وکړم، مور يې په ځواب کې ورته وويل: دا خو ډېره ښه خبره ده، زويه! زه له اوله تاته د واده خبره کوم، ستا ويل دي، زمونږ منل.
– خوشحاله اوسې! مورجانې، قربان! خو هغه د پلاني لور... مرجان ګونګی شو، خبره يې په ستوني کې بنده شوه، مور يې غږ پرې وکړ، مرجانه زويه! خبرې مه ژويه! سپين او واضح ووايه! پدې کې شرم نشته. مرجان يوځل بيا خبره راپورته کړه، بېرته يې بيا ونه شول کولای، چې د مور په وړاندې جرات وکړي او د خپلې پاکې مينې څخه پرده پورته کړي. مور يې يوڅه د ده ګونګيو خبرو باندې پوهه شوه.
نو ورته ويې ويل: ته بې غمه شه، زويه ! زه سبا ته ورځم، مور يې د مرجان په غوښتنې کې ډېر ځنډ ونه کړ سبا مهال د عاطفې کور ته ورغله، کله، چې عاطفې د مرجان مور وليده، نو يې ناڅاپه په خوله لاس کېښود له ځان سره يې ورو غوندې وويل:
خدايه خير کړې، هسې نه زما په اړيکو کورنۍ خبره نه شي عاطفې د مرجان له مورسره روغبړ وکړ. له هغې وروسته کوټې ته ننوته. د دروازې ترڅنګ يې غلی غوږ ونيو، د مرجان د مور خبرو ته څکه وه، له ځان سره يې څو ځلې د دعا ! لاسونه پورته کړل: خدايه! پردې مو وکړې ته مو مه شرموې! خو له خبرو وروسته د عاطفې مور د مرجان مور ته د چاى ست وکړ او په لوړ اواز يې عاطفې ته غږ کړ: هله، لورې چاى ورته راوړه! پدې وخت کې د مرجان مور لاس پورته کړ. زه ستاسو کورته په نه خوارك راغلې يم د عاطفې مورحيرانه غوندې شوه، په زړه کې يې وويل: خدايه خير کړې! څه خبره به يې راوړې وي؟ خو بيا يې هم د چاى څښلو ټينګار پرې وکړ. ته چې هرڅه وايې، هغه کار به وشي، د مرجان مور ورته وويل: که خبره مې اوريدل کيږي، خو چاى څښمه، کني خپلې پښې سپکوم، دعاطفې پلار او مور داوړو ورته وويل:
ولې نه په سترګو! د مرجان مور سمدستي خبره په خوله کې غوټه کړه او نبغ په نبغه يې ورته وويل: دوى دواړه ورته موسکي شول، عاطفې هم دا خبره واوريده، د مور

ketabton.com - The Digital Library



او پلار په لور یې وکتل. کله چې د دوی په شونډو یې موسکا ولیده، نو د عاطفې زړه باغ باغ شو او د خوشحالۍ دروازه ورپرانېستل شوه، یو ځل بیا یې مرجان په فکر کې ورتاو شو، د مینې له درده یې شونډې وچیچلې، په زړه کې یې د سپیڅلې مینتوب ویده جذبې راپورته شوې. نوهغه مهال د مرجان د مور د خبرو په ځواب کې د عاطفې مور او پلار په خندا سره وویل: توبه خدایه! ما ویل بل څه خبره ده، دا خو د خوښۍ خبرې دي، ستا زوی مرجان مونږ پېژنوو، په کلي او قوم کې یې د ښه سړیتوب نوم دی، ولې به له تاسو سره دوستي نه کوو، خو تاسو به ونه کړای شی، چې زمونږ د لور ولور پوره کړئ، د مرجان مور ورته وویل: خدای مهربان دی! مرجان د لاس او پښو سړی دی، نور زامن به مې هم په کار اخته شي. اوس زلمي غوندې دي، پدې خبرو سره سلا شول، داسې وخت راغی، چې مرجان ته یې عاطفه په ډېر لوړ ولور ورکړه. د لاسنیوي یو څه پیسې یې ورکړې.

د مرجان او عاطفې د مینې او ښکلا سلسله پسې وغځېده. هیلې او ارمانونه یې خدای تعالی ور پوره کړل، مرجان به خواري مزدوري کوله، هغه یو ورور په ملي اردو کې شامل کړ. دوی کوښښ کولو، چې پیسې پیدا کړي، د مرجان سخرګنۍ ته یې ورکړي، یو وخت خدای تعالی داسې راوست، چې د مرجان ورور د خپل نورو ملګرو سره په دنده تللی و، ناڅاپه یې موټر په ماین وختو او په هغې چاودنه کې د نورو ملګرو سره یو ځای ووژل شو. کله، چې د مرجان یو ورور ووژل شو، نو زړه یې ډېر ودردیده له واده هم زړه تور غوندې شو، بیا یې هم خپله مینه له لاسه نه شوه ورکولی، ځکه په زړه کې یې د مینې او عشق نیالګي ژورې ریښې کړې وې.

مور یې هم غمجنه شوه، پدې وخت کې یې هغه بل ورور هڅه وکړه، چې په ملي پولیسو او ملي اردو کې شامل شي، مور ته یي وویل: مور یې ترې انکار وکړ، زویه! هغه بل د ګلاب په شان ورور دې هم د ماین په چاودنه کې ووژل، شو ته به هم ووژل شې، همداسې خواري مزدوري کوه، خدای مهربان دی! ده ورته وویل: پېغله ورینداره مو دا څو کاله کیږي، د پلار په کور ناسته ده، له پښتنو شرم دی، باید ژر یې ولور پرې کړو! مرجان ورور مو هم ورته څوریږي، د لاس په مزدورۍ څه نه کیږي، پدې خبرو سره یې مور او مرجان ډېر تر تاثیر لاندې راغلل. ده ته یې هم د دندې د اخېستو اجازه ورکړه. دوه کاله یې په ملي پولیسو کې دنده ترسره کړه، یوه

ketabton.com - The Digital Library



ورځ په ښار کې له نورو ملګرو سره په موټر کې په ګزمه روان وو، چې نېږدې پرې ځانمرګی برید وشو. د مرجان کور ته یې د ځوانیمرګ ورور بله جنازه وروړه.
پدې وخت کې مرجان د هغو ورونو د معاش د اخیستو له امله هم د ښځې ولور لنډ کړی و. مرجان ډېر ځلې خپلې سخرګنۍ ته د ولور د پور خبره هم یاده کړې وه. خو سخر یې نه و ورسره منلي. د دوی بهانه دا وه، چې د عاطفې د زېوراتو او د سامان د اخېستو پیسې نه لري. دوی خپلې خور، لور ته ډېر سامان اخلي، ځکه نن سبا دستور دی، بیابه خلك خبرې کوي، چې لور ته یې کم سامان اخېستی، مرجان به همېش خپلې سخرګنۍ ته ویل:
زه د سامان په کیسه کې نه یم، یوازې مې مطلب له دوستۍ څخه دی. خلك به خپل کار کوي، خو سخرګنۍ به یې ورته ویل:
مونږ یوه پیسه هم نشو درته دریدلی، ټولې پیسې راکړئ، چې مونږ خپلې لور ته ښه زېورات واخلوو! د وخت په تېریدو سره داسې وخت راورسید، چې مرجان د خپلو ځوانیمرګو ورونو د معاشونو له برکته دعاطفې ډولۍ کور ته راوړه، د کلونو ارمان یې خدای پوره کړ.
که څه هم د مرجان مور د عاطفې راتګ خپل کور ته نېك پال نه ګڼه، ځکه د ولور په ګټلو یې دوه ځوانیمرګ زامن د مرګ تر کومې ورسیدل، کله کله به یې مور د خپلو زامنو تصویرونه سترګو ته ونیول، رنې اوښکې به یې بې واره په اننګیو راغلې، مرجان به پرې پام شو، مورې څنګه یې؟
له هرڅه نه صبر ښه شی دی. دې به ورته ویل:
هو، زویه! صبر به کوو، نور مو څه وس نه شته، تاته دې خدای (ج) ښه ژوند درکړي! له هرې بلا په امن کې اوسې! مور به یې د مرجان د تسکین لپاره هم کله کله ډاډمنې خبرې کولې، هسې د ورونو په غم کې وارخطا نه شې. مور به یې چې کله مرجان د خپل ځوانیمرګو ورونو د ویر په ټال کې په زنګیدو شو، نو مور به یې سمدستې د ډاډ ورکولو په خاطرغږ پرې وکړ مرجانه زویه ! په انسان مختلف وختونه راځي، ته مه خفه کېږه: خدای تعالی (ج) به ښکلي زامن درکړي، خدای (ج) ستا په ورونو باندې رحم وکړي، ته ډېر چورتونه مه واهه! مرجان به ایله سر له زنګنو

ketabton.com - The Digital Library



راپورته کړ، سترګې به يې په سوك وسولولې، مور ته به يې وويل: هو، مورې! مونږ په خدای صبرکوو، خدای مو دې مل شي!
مرجان به کله کله د وروڼو درانه غم بلې خواته يوور، لکه په نشه روږدی انسان زنګيدل به يې پيل کړل، هر وخت به يې د خپلو ځوانو وروڼو تصويرونه په ذهن کې يو په بل پسې تيريدل، مرجان که څه هم غمجن و، خو ځوانه مينه او په نوم کړې عاطفه يې نه هيرولی او نه پرېښودلی شوه، ځکه ژوند يې د مينې په تار ورسره تړلی و.
مجبور و، چې له عاطفې سره خپله مينه وپالي کور ته د عاطفې په راتګ سره د مرجان هغه مينه، چې پخوا يې درلوده، کمزورې وه، ځکه د مينې ليونۍ جذبې او احساسات يې د ځوانيمرګو وروڼو درانه غم ځپلي وو. وخت ناوخت يې د خپلې سخرګنۍ د بخيلتوب خبرې هم د عاطفې په غوږ ورتېراولې اوخپل ځوان وروڼه به يې هم ياد کړل، سوړ اسوېلی به يې وکيښ، وبه يې ويل: اخ، زما ځوانيمرګ وروڼه خو د ولور د لاسه......
مرجان به، چې له بهر څخه کورته راغی، د عاطفې په زېوراتو او د واده په سامان به يې سترګې ولګيدې، نو د خپلو وروڼو تصويرونه به يې پکې وليدل، سر به يې وخوځوه لکه ليونی سرټيټی به خپلې کوټې ته ننوت، له مرجان سره د خپلو ځوانو وروڼو غم ورځې تر بلې زياتيده، يوه ورځ يې مور له دوستانو کره او عاطفه د خپل پلار کورته تللې وه، مرجان يوازې په کور کې پاتې و، پدې ګوښيتوب د وروڼو غم لا هم په سر اخېستی و، په ذهن يې ډېر فشار و. د خپلو وروڼو تصويرونه به يې سترګو ته ونيول او بيا به يې د واده سامان ته وکتل دا ټول زما د وروڼو ....... پدې وخت کې په غوسه شو، سمدستې يې د واده صندوقونه، پالنګ او ټول سامان الات يو يو راټول کړل او په انګړکې يې انبارکړل، نو سم د لاسه يې د تيلو ګيلن راوخېست، د پاس يې تېل پرې وپاشل، تېلی يې ورکړ ناڅاپه مرجان په کور کې د اورلمبې پورته شوې، پدې وخت کې د ګاونډيانو شور شو.
هله د مرجان کور اور اخېستی. کله، چې ګاونډيان د مرجان کره راغلل، مرجان د اور لمبو ته ولاړ دی، ګاونډيانو ترې پوښتنه وکړه، دا ولې؟ مرجانه لېونی شوی يې؟

ketabton.com - The Digital Library



خپلې هستۍ ته د اور ورته کړی دی، داسې څوك کوي؟ ده ورته په ځواب کې وويل:
هو! زما په شان انسان بايد داسې وکړي، هغه که هر څوك وي، ځکه دا هر شی زما د ورونو په وينو اخېستل شوي وو او په هر شي کې ماته د دوی سپېڅلې څيرې ښکاريدې، ما يې نوره هېڅکله د ليدو حوصله نه درلوده.

## مرګوني زېري

په واده کې هسې هم ګڼه ګونه ډېره وي، خو د زلمي د دوستانو په واده کې خلك ځکه ډېر وو، چې زيات دوستان او ملګري يې درلودل، د مازديګر د لمرسترګه په ډوبيدو وه، د شفق سرخي د غرونو په لمنو د خپريدو په حال کې وو.
دا مهال د کليوالو د ډوډۍ خوړلو مراسم پای ته رسيدلی وو. د مېلمانو لپاره ځانګړي خوراکونه تيارشوي وو، زلمی په منډه د واده کور ته په ګړنديو قدمونو راننوت، ترڅو د ميلمانو د ډوډۍ ترتيبات ونيسي. پاڼې په ناڅاپي ډول له دهليز څخه پرې پام شو او د نظر وړانګې يې پرې ښخې شوې.
زلمي سمدستي په زرمينه غږ وکړ، هله، خورې! د کور مېرمنو ته ووايه، چې کليوالو ډوډۍ وخوړه مېلمانه پاتي دي، د هغې لپاره ژر تياری ونيسئ ته هم ورسره همکاري وکړه. پدې وخت کې د پاڼې د نظر لاروي د ځوان د ښکلا په دم کې ښکېل شول، له ځان سره يې ورو شونډې وخوځولې، بې واکه يې وويل:
ماشاالله! د نظره مه شې! دا قد او قامت، سپين کالي او دا فرانسوی ستايل پدې خو دې په خدای زمونږ د زړه ستنې ولړزولې، پاڼه سمدستي پدې هڅه کې شوه، چې د نا اشنا ځوان خور ته نږدې ورشي او د دنګې نا اشنا څيرې په اړه ترې پوره مالومات لاس ته راوړي.
پاڼې غږ پرې وکړ، خورې! ربښتيا مېلمانه ډېر دي ؟
زرمينه: هو، خورې! هغه ورور مې وويل:
پاڼه : ښه هغه ستا ورور و.
هو، کنه!

ketabton.com - The Digital Library



پاڼه : دغه ورور دې څه کار کوي؟
زرمينه : پوهنتون وايي.
پاڼه: ډېرښه، خدای دې يې ژوندی درته لري! زما ورور هم ستا د ورور په شان دی، دنگه ښايسته ځواني لري، کله مې چې وليد، زړه مې پر خوړ شو، هغه هم په پوهنتون کې دی.
زرمينې په موسکا کې ورته وويل: ډېره ښه ده، خورې! دواړه نيك بخته يوو، چې دا شان وروڼه لرو.
پاڼه: دغه ورور ته مو واده کړی دی ؟
زرمينه : نه تر څو يې، چې پوهنتون نه وي خلاص، تر هغې واده نه کوي.
پاڼه: ښه ده، کنه!، چې تحصيل وکړي.
زرمينه : هو خورې، نن سبا چې څوك نالوستی وي هېڅوك ارزښت نه ورکوي، پاڼه : زه هم په يوولسم ټولگي کې درس وايم.
زرمينه موسکۍ شوه او ورته ويې ويل: دا خو دې مخی راوړ.
پاڼه: نه خورې! دروغ نه دي، رښتيا وايم.
زرمينې : لږ په لوړ اواز خندا وکړه، بيا يې پاڼې ته گوته وخوځوله، زه پوهه شوم، چې تاته زما ورور خوند درکړ هههه.....
د پاڼې رنگ زېړ شو، ويې ويل: نه، نه خورې! قسم که دا خبره وي، هسې زما ورور ته په قواره کې ورته دی، پدې خاطر راباندې ښه ولگيده، چې کور ته ولاړه شم، ضرور به ورور ته وايم، چې کټه مټه ستا په څېرښايسته زړه راښکوونکې قواره مې وليده.
زرمينه: خورې، خفه نه شې! هسې مې ټوکې درسره وکړې. زه دومره ساده نه يم، چې پر تا غلط شك وکړم، دا ښه خبره ده، چې انسان پر انسان گران شي.

پاڼه: څنگه کيدای شي، چې، ستا ورور زما د ورور ملگری شي.
زرمينه : ولې نه کيږي، زما ورور ډېر ټولنيز شخص دی. ډېره ښه طبعه لري، له هر چا سره مينه کوي. زه به يې نمبر درکړم، ته يې ورور ته ورکړه. د پاڼې زړه لکه لمر وهلی گلاب چې خړوب کړې همداسې وغوړيده.

ketabton.com - The Digital Library



زرمينې! دا دی ونيسه د ټليفون نمبر يې.
پاڼه: دا دی واخله، زما په ټليفون کې يې وليکه!
ژر ژر يې د پاڼې په ټليفون کې نمبر ورواهه.
دا دی، خورې! واخله ټليفون.
پاڼې له زرمينې مننه وکړه.
د پاڼې لپاره د واده شپه همداسې شوه، لکه چې د ژمي په اوږدو شپو کې چې يو رنځور له خپله رنځه کړيږي.

پاڼه: الله خدايه! دا شپه ژر سبا کړې، چې زه سبا ته هغې ځوان ته د خپلې مينې د اظهار په باب ټليفوني پيغام واستوم.
لمر راوختو، پاڼه هم خوشحاله شوه، د واده له کوره د خپلې کورنۍ د غړو سره يو ځای خپل کورته راغله، لا يې بکره له سره نه وه کوزه کړې، کوټې ته ننوته، دستي يې ټليفون راوخيست، پيغام يې وليکه، سلام ښاغليه ! پدې هيله چې د ژوند په ټولو چارو کې برياليی وې، دنګه ښايسته ځواني، د سروې او نښتر قد او قامت فرانسوی سټايل ځومره درسره خوند کوي، الله دې په ځوانۍ برکت کړه!
په درنښت اغلې ز ــ ن
اوکې بټن يې ورواهه، پيغام يې واستوه.
څو شيبې وروسته ټنګ، ټنګ، ټنګ پيغام ورسيده.
زلمي سمدستي جيب ته لاس کړ، ټليفون يې راوخېست، کيلي يې خلاصه کړه، پورتنۍ پيغام يې تر پايه ولوست، زړه ته شك ور ولويده، يو ځل يې د جينۍ ګمان پرې وکړ. او بيا يي له ځان سره وويل: کوم ټولګيوال به مې وي، هسې راباندې ملنډې وهي. زلمی همداسې روان شو، پيغام يې مهم ونه باله. د پاڼې په زړه او دماغ کې د زلمي ځواني همداسې تاويږي راتاويږي، ورو له ځان سره لکه مګس وځنيږي، شونډې وخوځوي، هغه پخوانۍ جمله تکرار کړي، ماشاالله دنګه ښايسته ځواني، دا قد او قامت او فرانسوی سټايل، ځومره درسره خوند کوي! د پاڼې په زړه کې د مينې سپرغۍ ورو ورو په ځليدو راتلې، له ځان سره يې فکر وکړ، کيدای

ketabton.com - The Digital Library



شي، پیغام نه وي، ورته رسیدلی، ځکه ځواب یې رانه کړ، دا ځل یې په شاعرانه مینه خواږه ژبه ورته ولیکل:

زړه د یو چـــــا سره تــړم ورته پیغـام لیکمه
ګوندې ادا یې کړي یو ځوان ته چې سلام لیکمه
کــــه یې د میـــنې په تـار زړه را سره وتړلو
نو بیا پرې ویاړم په ورغـــوي به یې نام لیکمه

*** *** ***

اوکې بټن یې کېکاږلو پیغام یې واستوه.
څوشیبې وروسته ټنګ ، ټنګ ، ټنګ پیغام ورسیده.
زلمي سمدستي کتاب بند کړ، ټلیفون یې راوخېست، پورتني بیتونه یې ولوستل، خوند یې ورکړ، په زړه کې یې شك غزونې وکړې، له ځانه سره یې وویل: یاره، دا مینه رښتیا نه وي! بیا یې فکر وکړ، څنګه کیدای شي، زه خو هېڅ کومه جینۍ نه پېژنم.
خو زړه نه زړه و، چې پیغام ځواب کړي او کنه، په بې پراو یې د پیغام پاڼه خلاصه کړه او په ځواب کې یې ولیکل.

د ستــا سلام مې کړ ادا په مینه
خدای قبلوي، هره دعـــا په مینه
که د سپیڅلي یارۍ نیت ولــري
نشته پروا که که شي فدا پــه مینه

*** *** ***

اوکې بټن یې کېکاږلو، پیغام یې نا اشنا نمبر ته ولېږه.
څو شیبې وروسته ټنګ × ټنګ × ټنګ پیغام ورسیده.
پاڼې په بېړه منډه کړه، کوټې ته ننوته، ټلیفون یې راوخېست.
پورتني بیتونه یې ولوستل، په شونډو یې موسکا خواره شوه، له ځان سره یې وویل:
هر څه چې په پاك زړه او پاك نیت وي، خدای تعالی د هغې انسان سره مرسته کوي، څو ځلې یې پیغام سر تر پایه ولوست او بیا یې په ځواب کې ولیکل :

ketabton.com - The Digital Library



د ستا ځواني د پورې غره نښتر ته ورتــه ده
زمونږ د کلي شپــه خو روڼ سحر ته ورته ده
بغير له تا مې ګرانه زنده ګي شوله مشکله
شپبه د بېلتانه د سوځند لمر ته ورته ده
د اوکې بټن يې وواهـــــه پيغام يې ولېږه.
*** *** ***

څو شيبې وروسته ټنګ ټنګ ټنګ پيغام ورسيده.

زلمي ټليفون راوخېست، پورتني بيتونه يې ولوستل او ډېر خوند يې ورکړ، له ځانه سره يې چورت ووهه او ويې ويل: هسې نه په بله بلا واوړو، زمونږ په سيمه کې خو کومه شاعره جينۍ نشته، په خدای چې زه خو دغې پخې شاعرۍ او په تول پوره له مانا ډکو بيتونو حيران کړم، زلمی پوهنتون ته په لار و، له ځان سره يې وويل:
چې ټولګي ته ورسېږم، د همدغه پيغام ځواب به ورته ليکم.

زلمي ټولګيوالو ته سلام ورواچوه، سمدستي په چوکۍ کې کېناست، ټليفون يې راوخېست، لاوړاندې يې په لاره کې يو بيت جوړ کړی و،
نو د سر مطلع يې داسې ورته وليکله:
کـــــه زړه درسره وتـــــړم په تـــــار د يارانې
ضرور به قبلومه زنـــــدانونـــــه زولـــــنې
هېڅوك مې پيدا نه کړ وفادار په دې نړۍ
څوځلې تېر ايستلی په وعـــــــدو د زمانې
د ستا قـــامت د سروې زه نښتر يمه د غره
غاښونه د ځـــــــلا کوي په شان د دردانې
*** *** ***

په بيړه يې د ټولګيوالو له ويرې د ټليفون بټن کېکاږله، پيغام يې واستوه.

ketabton.com - The Digital Library



څو شيبې وروسته ټنګ * ټنګ * ټنګ پيغام ورسيد .
د پاڼې زړه لکه د تږي خړوب شوي، ګلاب پاڼه وغوړيده،
ټيليفون يې راوخيست، پيغام يې ولوست.
نو يې له ځانه سره فکر وکړ: ياره پدې شعرونو باندې څه نه کيږي، ترڅو به په کنايو کې ورسره خبرې کوم، بايد په ټيليفون ورسره نېغ په نېغه خبرې وشي، نو هله به مې د زړه براس ووځي، زړه يې په ليتاړو کې ونغاړه، هوډ يې وکړ، چې په ټيليفون کې يې نمبر ډايل کړي، همداسې يې وکړل، څو ثانيې به لا نه وې تېرې شوې، له ځان سره يې فکر وکړ، ښه نو څه به ورسره وايې، بېرته يې په بيړه ټيليفوني اړيکه پرې کړه، هلته د زلمي ټيليفون ته مېسکال ورغی، زلمي سمدستي ټيليفون راوخېست، ګوري، چې هماغه نا اشنا نمبر دی، بېرته يې ټيليفون په جيب کې کېښود او فکر يې وکړ، هسې به اشتهبا شوې وي، که يې له ما سره د خبرو نيت درلودی، ضرور به يې ټيليفون کړی وی.
پاڼې له ځانه سره وويل: راځه دا ځل بيا يو شاعرانه پيغام ورته ولېږه!
خو چې لږ غوندې لوڅ پيغام وي او سپينه خبره پکې شوې وي.
نو داسې يو څو بيتونه يې وليکل :

زه د تا مينه ستـــا ليدل غواړمه
د عشق په لار درسره تلل غــواړمه
ډېرې خبرې په زړګــــي کـې لرم
درته يې مخــا مخ ويـــل غواړمه
بس بې له تانه مې بل نه خوښـيږي
له تانه ځـــان قربانــول غـــواړم

*** *** ***

اوکې بټن يې کېکاږلو، پيغام يې ولېږه.
څو شيبې وروسته ټنګ ، ټنګ، پيغام ورسيده.

زلمي جيب ته لاس کړ، ټيليفون يې راوخېست، پورتنی شعر يې ولوست.

ketabton.com - The Digital Library



نو یې په زړه کې د مینې سپرغۍ راوټوکیدې، شك یې د یقین په لوري وخوځید.
نو یې دغه بیتونه ولیکل:

مینه ثواب دی، ترې انـــکار ګناه دی
څوك، چې د چا کړي انتظار ګناه دی
مینـــــه کـــوم درسره پټـــــه ګرانې
پدې وطن کې یې اظهـــــار ګناه دی

*** *** ***

اوکې بټن یې کېکاږله، پیغام یې واستوه.
څو شېبې وروسته ټنګ.......... پیغام ورسیده.
پاڼه په بېړه کوټې ته ننوته، ټلیفون یې له جیب راوخېست، پیغام یې ولوست، موسکۍ شوه، له ځان سره یې وویل: کار وشو اوس ورته ټلیفون کوم، مخامخ خبرې ورسره کوم، دا ځل یې بسم الله وویل، ځه چې څه خدای وکړل!
د زلمي نمبر یې په ټلیفون کې ډایل کړ، زنګ ورغی، زلمي جیب ته لاس کړ، ټلیفون یې سترګو ته ونیوه، ګوري، هماغه نا اشنا نمبر دی، زړه نه زړه و، چې خبرې ورسره وکړي او کنه، خو ویې ویل: یاره پدې شعرونو او مسېجونو باندې نور سره سترې شوو. ښه ده، چې خبرې ورسره وکړم، د ټلیفون بټن یې کېکاږلو.
سلام :
زلمی: وعلیکم سلام
پاڼه : ښاغلی، زلمیه ! پدې هیله، چې روغ به وې!
زلمی : شکر دی، زه ښه یم، تاسو څنګه یاست ؟
پاڼه : د الله تعالی مهرباني ده، چې پر مونږ یې وکړه، لږ غوندې موسکۍ شوه.
د زلمي زړه په درازه شو، په واقعیت کې یې ومنله، چې جینۍ ده.
پاڼې بیا ورته وویل: ته ښه یې، زلمیه ژوند دې څنګه دی، له درسونو سره ښه یې؟
زلمی : هو، ښه یوو، بس ژوند دی، تېرېږي.
پاڼه : یاره ډېر ظالم یې؟
زلمی : ولې؟ ولې؟ خدای مې دې نه کړي، ظالم؟

ketabton.com - The Digital Library



پاڼه : دا څو میاشتې دې راباندې د مسېجونو له لارې قهر تېر کړ، یو زنګ دې هم راته ونه واهه، چې مخامخ خبرې سره وکړو.
زلمی : نه، ګرانې ظالم مې دې خدای نه کړي، څنګه مې کړی وی، چې دې نا اشنا نمبر سره خبرې وکړم په خدای ماته ډېره مشکله وه.
پاڼه : ماته نه وه، مشکله ما دا دی زړه په لېتاړو کې وتړه، زنګ مې درته وکړ.
زلمی : بس، زه ځان ملامت بولم، تاته دې خدای اجرونه درکړي! هههه!
پاڼه : زه کولی شم، چې تا ووینم.
زلمی هو ولې نه! خو زه یو څو پوښتنې لرم، هیله ده، ځواب یې کړې!
پاڼه : په دواړو سترګو، مهرباني!
زلمی : زما نمبر دې څنګه پیدا کړی، ته څوك یې او څه نومېږې؟
پاڼه : د تا نمبر مې ستا له خور څخه په واده کې اخېستی، هغه وخت چې ته د هغه دوستانو د واده کور ته راننوتې، ستا په څېره مې سترګې ولګیدې، نو مینه مې درسره پیدا شوه پاڼې ټوله تېره شوې کیسه ورته وکړه او په پای کې یې ورته د کورنۍ پته او د ځان په اړه بشپړ معلومات ورکړل.
زلمی : ښه خوشحاله شوم، زه پوی شوم، یوه ورځ مې خور راته ستا په هکله څه خبره کړې وه، اوس رایاده شوې. خو په هغې وخت کې ما پرې غوږ ونه ګره وه، اوس راته پته ولګیده، خوښ شوم، چې په بشپړه مانا مې وپېژندې، ته چې زمونږ سره مینه کوې، زما زړه هم د کاڼي نه دی، زه هم درسره مینه کوم، سپیڅلې مینه خو ثواب لري.
پاڼه : هو! ګرانه! مینه رښتیا ثواب لري، کیدای شي، چې کله کله زما او ستا ملاقات وشي؟
زلمی : هو! ولې نه، دا خو ډېره واړه خبره ده، نور خدمت راته ښایه!
پاڼه : مننه د اوس لپاره دې په خدای سپارم، زه کورنۍ چارې لرم، بیا به بل وخت خبرې کوو، د خدای په امان!
زلمی : سمه ده، په مخه دې ښه، ښه ورځ ولرې!
زلمي، چې کله ټلیفوني اړیکه پرې کړه، په حیرانتیا کې ودرید، دیوال ته یې ډډه ووهله، نو له ځانه سره یې فکر وکړ، څومره ښکلي جملات یې کارول.

ketabton.com - The Digital Library



توا سمه له پوهنتون څخه فارغه شوېده، په خدای د ښایسته خبرو اترو یې ډېر خوند راکړ، که څه هم ژبه یې ډېره خواږه وه، ځېره به یې څه ډول وي، کاش ژر مو سره لیدلي وای! په همدې چورت کې پاڅیده، د پوهنتون تر دروازې پورې یې د پاڼې ښایسته خبرې په زړه لکه ملغلرې راوریدې، ټولګي ته ننوت، ټولګیوالو ته یې سلام وروا چوه، ګوښه ځان ته کېناست، ځینو ملګرو پرې غږ وکړ.

زلمیه! پدې ټول کال کې مو دومره پرېشانه نه وې لیدلی، لکه همدا نن چې تغیر معلومېږې، رنګ د بیخي اوښتی دی!

زلمي په ځواب کې ورته وویل: زه د معدې تکلیف لرم، کله کله چې مې د معدې تکلیف زیات شي، نو په دماغو مې بوج راشي، نو سر مې بیا درد کوي، نن له هغې څخه پرېشانه یم، نور څه نشته.

یوه ټولګیوال یې ورته وویل: ښه خدای د شفا درکړي! ما ویل، نوره کومه ستونزه نه وي، درته پېښه شوي!

زلمي ورته وویل: له پوښتنې مومننه، خدای (ج) به مي ښه کړي، دعاګانې کوئ!

د زلمي په زړه او دماغ کې د پاڼې د مینې او عشق ژرندې په چورلیدو وې، د نن ورځې په درس باندې هېڅ ونه پوهید، ټوله ورځ یې د پاڼې د نه لیدلې ښکلا تصویرونه په بېلابېلو ډولونو سره د خیالي انځوګر په مرسته جوړول، ډېر یې د لیدلو ارماني و، له ځانه سره به یې وویل: خدایه! کله به مو ملاقات کیږي!

همدغو چورتونو پسې اخېستی و. د پاڼې په ذهن کې هم د زلمي دنګه ښایسته ځواني په ځپو وه، د کور په هر دیوال او هرلوښي کې به د زلمۍ ځواني ورته ښکاریده، کله به، چې د کور له چارو فارغه شوه، نو بیا یې زلمي ته ټلیفون کوه او یا به یې د مینې او ښکلا ډك پیغام ورته استوه، د زلمي د عشق سمندر ورو ورو په مستۍ راتلو، د ملاقات لپاره یې ډېر تلوار و.

یوه ورځ همداسې راغله، چې له پاڼې سره یې ښوونځي ته د تلو په وخت کې په داسې مهال کې ولیدل، چې نورې همزولې هم ورسره وې، په تور کمیسونو کې له ورایه داسې ښکاریدې، لکه تورې بلبلې، چې د ګلونو په سیل وتلې وي، پاڼې د نورو نجونو په ځېر په مخ تورڅادر راخور کړی و، د زلمي سره د ټلیفون په لیکه وه او د ځان د پېژندګلوۍ په اړه یې معلومات ورکول، کله چې د زلمي خواته نجونې

ketabton.com - The Digital Library



نړدې شوې، پاڼې لړغوندې څادر له مخ لېرې کړ، زلمي ته يې وويل: همدغه يم، چې په څادرکې نيم کښ درګورم، زلمي ورته وويل:
ومې ليدې، ماشاالله ويارړ پدې ځوانۍ او تورو ګورګورو سترګو، پدې خو دې په خدای د مسلمان لورې زما د زړه ستنې ولړزولې، زلمي ناڅاپه يو سوړ اسويلی وکيښ، بې واکه يې وويل:
خدايه، تا هم عجيبې زورورې ښکلاوې پيدا کړې، چې د انسانانو زړونه د مقناطيس په شان له ځانه سره کاږي.
ټليفون يې له لاس ولويد اړيکه يې پرې شوه، کله يې چې ټليفون راوخېست، نو د قبلې په لور يې سترګې واړولې، ګوري، چې پاڼه له نورو همزولو سره د کور په لوري راهي ده، خو پاڼه په ټولو کې دنګه او په منظمو قدمونو چابکه د نجونو سرته روانه وه، داسې ښکاريده، لکه د تورو زاڼو د کتار اميره چې وي، زلمی له ځان سره په فکرونو خيالونو کې ډوب روان شو، حالات يې ورځ په ورځ په خرابيدو شول، د عشق سپرغۍ يې په سينه کې د مينې توند باد لاهم بلې کړې، بالاخېره دغو سپرغيو د غم لمبې وکړې، په زړه او وجود کې يې په خواريدو شوې، د پوهنتون له درسونو سره يې علاقه کمه شوه، ډېر وخت يې په غيرحاضرۍ پيل وکړ، د پاڼې سره يې زړه د مينې په تار وتړه، د دوی ترمنځ د عشق او مينې سلسله پسې وغځيده، مخامخ ليده کاته، ټليفوني خبرو يې دوام پيدا کړ، هره ورځ به يې د پاڼې د ديدن شيبې شمارلې، زلمی د وخت په تېريدو سره د پاڼې په مينه کې دې حد ته ورسيد، چې د زړه درد د کراريدو د غمونو او پرېشانيو د کميدو له امله يې د کليوالو ځوانانو سره هغه د چا په خبره مازديګر مهال د چرسو سګرټې په وهلو هم پيل وکړ.
په همدې به يې د پاڼې غم مشغولوه. پاڼه هم د زلمي په غم داسې زبېښه شوه، لکه خزان وهلې د ګل پاڼه. کله کله به يې مور ورته ويل: پاڼې شونډې دې وچې، رنګ دې زېړ غوندې شو، جينۍ ناروغه يې، که بله څه خبره ده، څه ستونزه درته پېښه شوېده؟ که، چېرې ناروغه وې، پلار ته به د ووايم، چې ډاکټر ته دې بوځي؟ ګني هسې عبس چورتونه مه وهه!
پاڼه : نه مورې! ناروغه نه يم، هسې داسې ښکارم، څه ستونزه نشته، خامخا انسان دی، کله کله يې رنګ تغير کوي.

ketabton.com - The Digital Library



نور د پاڼې په زړه کې د عشق او مينې اور په غوړسکو غوړسکو بليدو، هره شېبه يې د زلمي څېره په ذهن کې په تاويدو وه، پرته له زلمي ورته کور او کلی سور اور ګرځيدلی و. زلمی به وخت نا وخت پوهنتون ته ورتلو، خو د کليوالو ځوانانو سره يې ناسته پاسته ډېره شوې وه، پدې خاطر چې هغوی سره به يې نېشې او تماشې کولې په همدې به يې غمونه غلتول. زلمی نور په عشق کې د جنون تر سرحده رسيدلی و. کور، کلی او پوهنتون هر څه ورته پردي وو، يوائې يې د پاڼې سره د ژوند هره شيبه تړلې وه. پاڼې هم د ژوند هره شېبه د بېلتانه د ازغو په بستر تېره وله. د پاڼې په زړه او وجود ورځ تربلې د عشق تبه په زياتيدو شوه، پلار او مور يې پرې شکمن شول، چې د لور يې ورځې تر بلې حالات خرابيږي.

نو مور او پلار به يې ويل: کيدای شي، خپل راتلونکي ته زړه خوري، نو ښه به وي، چې د نمزادۍ غم يې وکړو، همداسې يې وکړل، پرته له دې، چې د پاڼې سره سلا وکړي يوه دوست ته يې واده کړه، کله چې پاڼه په خپله واده توب خبره شوه، بې واکه يې چيغې کړې، خپل مخ يې په دواړو لاسونو وواهه، په زړه يې لا هم د غم لېوانو پنجې ښخې کړې، له ځانه سره يې وويل: دا انصاف دی! دا څه وشول، خدايه دا دې پښتنو بدبختي ده!

هلته زلمی د پاڼې په واده خبر شو، لا يې هم د جنون څپو وجود ولړزاوه.

د پاڼې په زړه د زلمي د عشق او مينې له امله د غم خپسې ناستې وې. زلمی د وخت په تېريدو سره دې حال ته ورسيده، چې د کليوالو نشه يانو او لاره وهونکو سره يې مخه شوه، پوهنتون ترې پاتې شو.

د پاڼې غم په سر واخېست، په هر ډول ټولنيزو فسادونو کې ښکېل شو. کله کله به يې د پاڼې ځواني سترګو ته ودريده، نو د واده خبره به ورياد شوه، له ځانه سره به يې ويل: هېڅ امکان نلري، چې د پاڼې ډولۍ پورته شي.

هلته به دا کار کيږي، چې په ما تورې خاورې امبارشي، که، چېرې مې ډېره بې وسي شي، نو حتمي به ځان وژنه کوم، زلمی پدې چورتونو کې ډوب او سرګردان ګرځيده، د شپې او ورځې به د وسله والو غلو سره د لويو لارو پرسر ولاړ و او مسافر به يې شوکول. يوه شپه يې په يوه وسله واله غلا کې له ملګرو سره يو ځای دوه مسافر هغه مهال ووژل، چې د پيسو د نه ورکولو له امله يې ورسره شخړه راغله، له

ketabton.com - The Digital Library



پېښې وروسته سمدستي امنيتي ځواکونه سيمې ته ورسيدل. دوی د پېښې سيمه لا نه وه، خوشي کړې، چې د امنيتي ځواکونو تر محاصرې لاندې راغلل. زلمی او نور ملګري يې ونيول شول، په بند کې د څه وخت له تېريدو وروسته زلمي په يوه ورځ دوه مرګوني زېري ترلاسه کړل، يوې خوا پرې د پاڼې د ډولۍ د پورته کولو غږ وشو او له بلې خوا د بې وزله مسافرو د وژنې په قضيه کې ورته د محکمې له لوري د اعدام سزا واورول شوه. نو زلمي د زندان ديوال ته ډډه ووهله، له ځان سره يې په تت غږ دغه پښتني لنډۍ زمزمه کړه!

که غم له غمه شرميدلی
په ما به نه راتلی جوړه جوړه غمونه

# ادبي ټوټې

ketabton.com - The Digital Library



# د (روحاني) په وير کې

هر مازديګر به چې کله له خپلې دندې څخه کورته راغلم، نو د معمول په څېر به مې غوښتل، چې د باندې په شنه جوس کې چکر وواهم، ترڅولې مې روح او دماغو ته تسکين پيداشي، ځکه ټوله ورځ پدې اخته وو، چې په دې غم لړلي پېښنه کې څومره د سر او مال زيانونه او په هغه کې څومره... بس همدا ويرونه دي، مونږ هڅه کوو، چې د خپلې رسنۍ د خپراوي لپاره ريښتوني مؤثق او په توازن ولاړ خبرونه پيدا کړو، دغه ورځ ډېر ناوخت ؤ، ماښام مخ په خوريدو و، تياره غوندې وه، شفق د غرونو په څوکو کې نه ترسترګو کيده، خپله لمنه يې د شپې له شره ټوله کړې وه، خو بيا مې هم د عادت له مخې تلوسه وه، چې له کوره ژر ووځم، د کورڅخه د وتلو پرمهال مې له جيب څخه راډيولرونکی ټليفون راوخېست، غوږګۍ مې ورواچوله، بې بې سي راډيو مې ونيوله، اورم، چې خپلواك ساپي په ژړغوني اواز سره دا خبرپيل کړ:

(بې بې سي په ډيرې خواشينۍ سره د خپل خبريال عبدالصمد روحاني د وژنې خبرخپره وي، چې ... په دې وخت کې عجيبه حالت راباندې راغی او ټليفون مې له لاس ولويد، يو سوړاسوېلی مې له خولې وکېښ، له ځان سره لکه ملنګ ليونی ودريدم اوفکر مې وکړ، ظالمانو داسې څوك کوي !؟ اخېر دغه ځوانيمرګ څه کړي وو. يوازې مو پدې وواژه، چې له حقيقتونو يې پرده پورته کوله اويا يي د کړېدلي ولس غږ تر نړۍ رسوه، تاسو زما خبره واورئ ! که په دې مو وژلی وي، چې حقيقت بايد روښانه نه شي په ياد ولرئ، چې ستاسو بدې کړنې به ټولې نړۍ ته روښانه کيږي او د روحاني روحانيت به لا نورې غزونې وکړي. د حقيقتونو او واقعيتونو د بربنډولو لړۍ به دوام پيدا کړي.

او تاسې د عظيم جنايت سرته رسوونکي به د نړۍ د هر وګړي په وړاندې شرخوټوونکي، بشر وژونکي او رټلي څيرې وپېژندل شئ.

او بيا به مو د خدای (ج) د ځمکې پرمخ د استوګنې ځای نه وي او ټوله بشري ټولنه به ستاسو د ورکيدو او له منځه وړو هڅې پيل کړي. ځکه تاسو د حقيقت او انسانيت دښمنان ياست.

ketabton.com - The Digital Library



# راځئ، د وینو پرځای خولې توی کړو

پورتنی عنوان د یوه سپین روبي د خولې خبره ده، چې په یوه پراخه ناسته کې یې د سیمې خلکو ته د خپلې وینا پرمهال کړې وه، هغه مهال چې ما دا خبره واوریده، پرما یې ډېره ژوره اغېزه وکړه او د فکر په ټال پورې تړلو تنابونو ته مې ماشومانه لاسونه ورواچول او زنګیدل مې پیل کړل، زما د عمر سره سم د همزولي جنګ بېلابېلې صحنې مې سترګو ته ودریدې.
د خپل هېواد په کنډکپرو مې زړه وسوزیده، خپل مظلوم ولس ته مې په سترګو کې غټې غټې رڼې اوښکې په څپو شوې او د ګریوانه په لوري لکه سپین ورکي په ټوپونو شوې.
هماغه شېبه د پیاوړي شاعر پیرمحمد (کاروان) د غزل دغه بیت رایاد شو:
د غم لېوانو مې د زړه په ورشو برید کړی دی
د اوښــکو وري د بڼو شپول ته په ترپکو راځي
کله مې چې دغه بیت له ځانه سره په ډېره تته توګه د شونډو په سرونو زمزمه کوه، په فکر کې مې ګڼ شمېر د ویر او ماتم انځورونه یو په بل پسې لکه د تلویزیون په پرده تېریدل، زه له خپله ځانه وتی وم، د خپل وجود یوغړی مې هم په اختیارکې نه ؤ، څو لسیزې شاته ولاړم، د خپل همزولي جنګ د زوکړې ورځ مې رایاده کړه، بالاخېره خپلې خاورې او ولس ته لاس په دعا شوم: (خدای (ج) دې نور مونږ د جنګ له تورې او وژونکې بلا خلاص کړي! خدایه ! ته د جنګ لړۍ هغه چاته وروغځوې، چې پرمونږ یې لورولې ده.
له دعا وروسته مې د عقل او شعور پرهغو خاوندانو غږ وکړ، چې دا مهال یې لاهم د وژونکي او تورمخي جنګ لمنه نیولې، غواړي، چې خپل غولی په بارودو، مردکیو لا نورهم ویجاړکړي، غواړي، چې خپل سکه ورونه ووژني، غواړي، چې خپل بچیان یتیمان کړي، غواړي، چې خپله خور بوره اومور کونډه کړي. دوی ته مې د هغه سپین روبي خبره د فکرکولو په بهیر کې ورمخې ته کړه، ورته ومې ویل:
(راځئ، نور د وینو پرځای خولې توی کړو! ). ځکه د وینې تویېدل له ویر او بربادیو پرته مونږ ته نورڅه نه راکوي، د خولو تویول مونږ او تاسو ته نیکمرغي اوهوساینه رابښي، راځئ، نور توبه کړو! د ښه ژوند د تېریدو لپاره یوه نوې لاره غوره کړو، کومه، چې د سولې، وروروۍ او تلپاتې خوښۍ سبب کیږي. په دې خاوره او ولس زړه وسوزو، د مینې او خواخوږۍ په دستمالونو د یتیمانو اوښکې ورپاکې کړو، د خپل هېواد وران بنسټونه ورغوو او په پرهر او ژوبلو زوړونو د ټکور پټۍ ولګوو.

ketabton.com - The Digital Library



# اختریزه ډالۍ

هغې سره په لاس کې یو شین غوندې ټوکر و. په ګړندیو ګامونو روان و. ناڅاپه په لاره کې ورباندې د ګاونډې زوی پېښ شو، له روغبړ وروسته یې ترې وپوښتل: ګرانه! څنګه داسې ساه نیولی او چابك روان یې، خیر خوبه وي؟ تورجان ورته وویل:

هو خیرت دی، هغې پورې خړې دښتې ته ځم، هلته څه کارلرم. ایمل ورته وویل: عجیب سړی یې، دا د اختر شپې او ورځې وګوره، زمونږ او ستا په څېر ماشومان د ځان او نورو ملګرو او د کورنۍ د غړو لپاره ښېلا ښېلې تخفې او توکي اخلي، تا یوازې شین ټوکر په لاس کې اخیستی، د خړې دښتې په لور روان یې، تورجان چې کله دا خبرې واوریدې، څو شیبې یې د ده د خبرو په غبرګون کې د ده په ټټر کې سترګې خښې کړې او وروسته یې یو سوړ اسویلی وکیښ، ایمل ته یې سترګې ور پورته کړې او ورته ویې ویل:

اوس به رښتیا درته ووایم، مور مې په ښارکې هګۍ پلورلې وې او هغه څو روپۍ یې چې د تورکتان ټیکري په پیڅکه پورې تړلې وې، ماته یې راکړې او راته ویې ویل: زویه ! دغه پیسې واخله، په ښار کې یو متر شین رنګه غوندې ټوکر پرې واخله، همداسې مې وکړل، کله مې چې کورته راوړ، مور مې تیار په ستن کې تار اچولی و او په چاودو ګوتو کې یې ستن ونیوله او له لږ ځنډ وروسته یې ترې جنډا جوړه کړه او راته ویې ویل:

چې دا اختریزه ډالۍ به د خپل پلار قبر ته یوسې او پر لکړه به یې ور وتومبې اوس دا دی، د خپل پلار د قبر په لوري ځم، پر مزار یې د ولاړو لکړو څخه زړې څیرې ویرې لېتاړې لېرې کوم او پرځای یې دغه نوې جنډا ورټومبم، ځکه د اختر په شپه او ورځ کې زما په څېر ډېر ماشومان د تېرو څو لسیزو راهیسې ترننه پورې په هر وړوکي او لوی اختر کې د خپلو پلرونو پرنویو قبرونو باندې پرلکړو جنډې ورټومبې.

خو زه نه پوهېږم، ترکومه به د ویر، ماتم او د وژنې دغه سلسله روانه وي او ترڅو پورې به زمونږ همزولي ماشومان په اخترونو کې د خپلو پلرونو قبرونو ته اختریزې ډالۍ ور وړي.
ایمل له دې خبرو سره په سترګو کې رڼې اوښکې په څپو شوې، همداسې ترې روان شو.
تورجان هم د خپل پلار د قبر په لوري ګړندي ګامونه واخېستل.

ketabton.com - The Digital Library



# زرګرې سترګې

ته هم عجيبه ښکلا يې، کله له غوسې څخه تکه سره شې او کله بيا کټ کټ په خندا شې، ستا فطرت بل شان دی. له نورو فطرتونو سره بالا ډېر فرق لري، ته د لوړ ذوق څښتنه يې، تاته په دې ماحول کې هره ښکلا د خپل غرور له وجې بدرنګه ښکاري، تا په هيچا سترګې نه خواږېږي، تا ډېر زوړونه ليلام کړل او ځينې دې د خپل مغرور حسن د تعظيم او اطاعت په خاطر دومره سخت وتراشل، چې د ويښته په څېر دې نري کړل او د عمر تر وروستۍ شيبې پورې به ستا په پلوۍ ولاړ وي. اوس ته ووايه! اې سترې او نازولې ښکلا! زما د زړه غمی دې په خپلو زرګرو سترګو غلا کړی او غواړې، چې د نورو زړونو په څېر زما زړه هم وتراشې او د تل لپاره يې د ځان غلام کړې.

زه د خپل غلا شوي زړه په موندلو پسې په دې ويړ او لوی بيابان کې سر يم او هڅه کوم، چې پيدا يې کړم، ته د مهربانۍ له مخې راته په لمرينو وړانګو هغه لاره په غشو ووله، چې ستا تر دار درغلې ده. ته زما دا ويرلړلی حالت نه وينې؟

لکه د خزان ترخو سيليو ځپلی بلبل چې پر ستونې يې د غم خپسه ناسته وي او پټ په سينه کې د ګلو سندرې بولي؛ خو ګوره له دغې حالت څخه به ضرور وځم. وخت به راشي، بيا به د سندرمار بلبل په څېر په خواږه ژبه ويناند شم، د درد او له حکمته ډکه ژبه خدای راکړې، بيا به وکولای شم، چې ستا له ناکردو نه ټوله زمانه خبره کړم، خو چې پام دې وي لړه پښه نيولې شه! دا د حکمته ډك شعر واوره!

زما د زړه غمی، دې غلا کړ، په دا دوو سترګو زرګرو
هسې نه چې يې وپـــلورې، د چــــړو په ســــوداګرو
ستا د غــم بړلۍ وريږي، پانې توی شوې د ګورګورو
زه به زړه ټکــــورومه، په ټپـــــو او په سنـــــــــدرو
لړ د شـــونډو خيرات ورکــــړه، خيــر شي په مــسافرو

ketabton.com - The Digital Library



# انځوریزې نښې

ژوند تېریدونکی دی، ډېر ارمانجن زوړونه د خاورو تل ته ولویدل، په ډېرو سپېڅلو ارمانونو خاورې دلۍ شوې، زه چې کله سهار وختي د خپل معبود عبادت کوم، زمونږ د کلي ترخنګ په هدیره کې پرقبرونو ولاړو لکړو ته مې ډیر ځلې ورپام وي، سپین او سره ټوکران په ویرجنو اوښکو لړلي دستمالونه پاسنی شمال ورو ورو رپوي. خو په ځینو لکړو پورې ټومبلي ټوکران او هغه زرین ګلدار دستمالونه چې پرهر وژلو معشوقو د خپلو میینو د قبرونو پرلکړو ټومبلي، د باد او باران له امله څېرې او لېتاړې لېتاړې ښکاري. زما په اند په دغو قبرونو به هرو مرو څو لسیزې اوښتې وي.

زه د خپل خیال پلوه په درشل کې، د پورتني نظر لید څخه په الهام اخیستنې سره هره ورځ د بېلابېلو تصویرونو شاهد وم، فکرکوم، چې یو وخت به مونږهم دغې حالت ته ورسیږو. په دې تنګه نړۍ کې به د تل لپاره دمه جوړه کړو. خو یوه خبره چې ما ډېر زوروي، هغه دا ده، زما د زوکړې سره سم یو بریالي انځورګر په خپلو مهینو ګوتو زما د زړه په مخامخ دیوال په لوړ هنر سره یو ښکلی حیرانوونکی انځور کښلی، چې تل یې ماته په ژوند کې مینه، حوصله ډاډګېرنه او داسې څه راکړې، چې زما د ژوند د خوشحالۍ سبب شوي. هو! زه په دې نه ویریږم، چې زما د وجود هر غړی به خاورې شي، وېره او د زړه درد په دې راسره مل دی، چې هغه زما همزولی انځور به هم وران شي. زه د ژوند په هر وزګار پړاو کې هره شېبه د محبوب لپاره په سجده یم او د ده مینه مې په رګ رګ کې د وینې په شان په څپو ده.

زه له محبوب سره خپله اسلامي، انساني خواخوږي څرګنده وم او ژمنه کوم، چې ترخپله وسه پورې به انځوریزې نښې د هغې راتلونکي ورځې پورې وساتم، چې خلك ورته سخته ویروونکې ورځ وایي،خو زه نه پوهیږم، چې زما محبوب به خپل سپېڅلی مسولیت ادا کړي!؟ زما د قبر په ولاړو لکړو به ګلدار دستمالونه، رنګین ټوکران ځوړند کړي !؟ دا هغه پوښتنې دي، چې یوائې یوائې دی ورته ځواب ویلی شي او بس.

ketabton.com - The Digital Library



**( لټه!!!)**

ته د مدنیت په مانا نه پوهیږې، ته په یوه داسې ویرونکې محل کې اوسیږې، چې هلته ډېر کم انسانان د مجبورۍ ورځې استوګنه کوي. تاته ژوند ارزښت نه لري. کاش، ته د خوارۍ ژوندانه له بېلابېلو نعمتونو خبر او په ارزښتونو یې په سمه توګه پوهیدلی وای!

کاش! تا زما سره د یو څو شیبو پورې د مینې او انساني خواخوږۍ په ټغرناسته کړې وای! ترڅو ما درته د مینې وروری او د متمدن ژوند اړخونه روښانه کړي وای! تاته مې د زړه سره تړلې څو هغه سندریزې ټپې زمزمه کړې وای، چې دا مهال پرې پښتنی تاریخ ځلیدونکی ښکاري او پښتانه زلمي ترې د سنګرونو په ګرمولو کې کار اخلي او پېغلې ترې د شجاعت او اتلوالۍ زده کړه کوي.

ته د خپل ټاټوبي د هغه ویاړمنو مانوي هستیو عبرت واخله، چې دا مهال د نړۍ مشهور نوابع اوکارپوهان د دوی فکري اوعقلي تخلیق څخه استفاده کوي. ته که هر څو پدې خور شوي تورتم کې اوسېږې، بې لدې چې د جهالت نړۍ به پر تا اباده وي، نورهېڅ ګټه پرته له شره چا ته نه شي رسولی.

خو زه تاته یوه وروستۍ مشوره درکوم، هغه خبرې او فکر له مغزو لرې کړه، کوم چې د ټولې نړۍ انسانانو ته ترې شر رسیږي او د بدبختیو په سیند لاهو کیږي، ته د یو ه نوي فکر او نوي لارې په لټه کې شه، د خپلو پلرونو او نیکونو تګ لوری تعقیب کړه. ترڅو موجوده نړۍ تاته د سوال او همکارۍ لاس دراوږد کړي.

ketabton.com - The Digital Library



## ماشومتوب

هره شپه به چې پر کټ څملاستم، سترګې به مې پټې کړې، غوښتل به مې، چې ویده شم، خو که هرڅو به په کټ کې لټ په لټ واوښتم، بیا هم خوب نه راته، سترګې به مې کله پټولې او کله به مې غړولې، ځکه چې خوب رانه لکه یاغي اس له قبضې وتی و، کله به مې چې هیله نېله شوه، نو شینکي اسمان ته به مې ځیر ځیر وکتل، سپوږمۍ به مې په سر ولاړ وه، سپین ستوري به ترې چاپېره وو، بس په همدې ننداره کې مشغول وم، سپوږمۍ خپله وړانګینه موسکا د نوي پېغلتوب په جامه کې د ستورو په زرینو لمنو شیندله، بیابه مې چې ستورو ته وکتل، هغوی هم د خوږلن لطافت سره سم په خپله مهینه جلوه پېغله سپوږمۍ لمانځله، ځکه چې دوی پرسپوږمۍ مین وو. خو داسې مین، چې ترخپله وسه پورې یې د خپلې سپیڅلې مینې سپیناوی دومره په لوړه کچه کوه، چې توا د سپوږمۍ په لمن اورلګیدلی دی. له نازه ډکه نڅا یې کوله، په مسلسله توګه یو په بل پسې روان وو، سپوږمۍ کټه مټه زموږ د کلي د ناوې په څیر چې په مستانه پېغلتوب کې له ډیرغرور نه غریو نیولې ناسته وي، پېغلې او پېغلوټې ترې چاپېره اتڼ کوي او لپې لپې پرې د شکرانې خواږه اچوي، دا دي د ماشومتوب تېرې خاطرې مې په زړه کې په پرلاپسې ډول د ویر ساندې زیږوي. خو افسوس اوس ما د ژوند یو بل پړاو پیل کړی دی. که هرڅو ګوډیانې لوبوم او د شګو کوټنې جوړوم، که د شنه اسمان پېغله سپوږمۍ ناوې بولم، که ستوري راته هرڅو د نورڅښې غورځوي، خو د کلي ماشومان مې خپل همزولی نه بولي، په خپل کتار کې مې نه پریږدي او په لوبو کې د ګډون حق نه راکوي. خو ارمان ارمان دی، چې بېرته په طبیعي ډول یو ځل بیا ماشوم شوی وای.

ketabton.com - The Digital Library



## د نورشاه نوراني پېژندګلوي

ښاغلی نورشاه نوراني د خوست ولایت د اسمعیل خېلو او مندوزیو ولسوالۍ د حیدرخېلو د قوم د ترخېلو په کلي کې د مرحوم خدای بښلي زاهدشاه په درانه او دیندراه کورنۍ کې په ۱۳۵۷هـ ل کال کې نړۍ ته سترګې پرانېستې، نوراني لومړنۍ زده کړې د ګاونډي هیواد پاکستان د میرانشاه په تبۍ کېمپ کې د مهاجرینو نړیوالې کمېشنرۍ په ښوونځي کې ترسره کړې له هغې وروسته یې منځنۍ زده کړې د میرانشاه د ډنډو په سیمه کې په الفتح لیسې کې ترسره کړې. په هېواد کې د مجاهدینو د اسلامي انقلاب له بریالیتوب وروسته په ۱۳۷۲ هـ ل کې خپل ټاټوبي ته راستون شو. د کورنیو بوختیاوو او د خوارۍ او مزدورۍ له امله یې د زده کړو بهیر یو څه ټاکنی شو. له څه مودې وروسته یې د حیدرخېلو محمد صدیق روهي ښوونځۍ ولوست او د دوولسم ټولګي څخه په ۱۳۸۲ کال کې بریالی شو. د ژورنالېستیکو او فرهنګي بوختیاوو ترڅنګ یې هڅه کوله، چې لاهم لوړو زده کړو ته لاره بیا مومي، هغه چې په ۱۳۸۵کال کې د عبدالله خان تڼي عالی دارالمعلمین په ادبیاتو پوهنځي کې شامل او په ۱۳۸۸ کال کې په ښه درجه ترې بریالی شو. ښاغلي نوراني لا هم د خپل نیمګړي ارمان د بشپړېدو په حال کې و، چې په ۱۳۹۲ کال کې یې د شیخ زاید پوهنتون د پښتو ادبیاتو د شپې پوهنځی ته ازموینه ورکړه، چې په ۱۳۹۵ کال کې ترې فارغ شو.

ښاغلي نوراني د کمپیوټر او انګلیسی په برخه کې هم لنډمهالي کورسونه لوستي . او د دې ترڅنګ یې د ژورنالېزم په برخه کې اوږدمهالي او لنډمهالي روزنیز کورسونه لوستلي دي.

ketabton.com - The Digital Library



## د نوراني هنري، ادبي ژوند او هڅې

ښاغلي نوراني د هجرت په ديار کې له شعرلوستولو سره مينه لرله، کله کله به يې د سهار له مخې په ښوونځي کې له خپلو ټولګيوالو سره يو ځای په اسمبلۍ کې ترانې زمزمه کولې له ماشومتوب يې د شعر ويلو سره مينه لرله. په هېواد کې د مجاهدينو د اسلامي انقلاب له بريالیتوب وروسته له خپلې کورنۍ سره يو ځای خپل پلارني ټاټوبي ته راستون شو.

دا مهال چې يو څه زلمکی غوندې شو، نو د شعرونو په ليکلو او لوستلو يې پيل وکړ، د خوست د بېلا بېلو سيمو تنکيو ځوانانو شاعرانو سره يې پيژندګلوي پيدا شوه وخت ناوخت به يې د شاعرانو ملګرو سره ادبي بنډارونه جوړول، نو په ۱۳۷۶ کال کې د دوی شاعران ملګري پدې وتوانيدل، چې د استقلال ادبي ټولنې په نوم يو ادبي نهاد رامنځ ته کړي، ښاغلی نوراني د دغه ټولنې د موسسينو له ډلې شميرل کيږي.

دا مهال د ښاغلي نوراني فعاليتونه ورځ تر بلې مخ په ډيريدو و په سيمه او هيواد کې يې په بېلا بېلو ادبي غونډو او محفلونو کې برخه اخيستې، ليکنې او شعرونه يې د کوزې پښتونخواه پيښور، مرکز کابل او نورو ولايتونو کې د خپريدونکو ورځپاڼو او مجلو څخه نشريدل، چې د بېلګې توګه په هېواد، انيس، شريعت، سهار او وحدت ورځپاڼې، سپوږمۍ، هيله، تعاون، وطن، کندهار او ښکلا مجلې يادولی شو.

نوراني په خوست کې د هيلې مجلې استازی او د خوست مجلې سره راپورټر په توګه کار کوه، د ادبي بنډارونو او ناستو پاستو او مطالعې سره د نوراني شعر په تخنيکي او معنوي لحاظ ورځې تر بلې د ځومره والي او ځرنګوالي له پلوه مخ په ښه کيدو و، داسې وخت را ورسيده، چې نوراني د ښه شعر د ليکلو له امله په خوست کې د ځوان سرلاري شاعر په توګه شهرت ترلاسه کړ، هغه مهال استاد محمد اسماعيل يون، استاد عبدالغفور ليوال، استاد لال پاچا ازمون او استاد اميرجان احمدزي د ده پر شعريت په رسنيو او مجلو کې ليکنې او ويناوې خپرې کړې، دی يې د خوست ځوان فرهنګي کهول د سرلاري شاعر په توګه معرفي کړ.

ketabton.com - The Digital Library



ښاغلي نوراني ۱۳۷۷ کال په اوږدو کې د استقلال ادبي ټولنې مرستيال وټاکل شو. د نورو ملګرو سره يې يو ځای هڅه وکړه، چې د خوستيو ځوانو شاعرانو ګډه شعري ټولګه چاپ کړي، نو يې د (د سندرو اربکي) په نوم ګډه شعري ټولګه د چاپ په ګاڼه وپسلله، له هغې وروسته د (خوستيو ژړيو نارې دي) په نوم ګډ شعري جونګ هم چاپ شو.

هغه مهال د ښاغلي نوراني شعرونو په لره او بره پښتونخواه کې زيات شهرت ترلاسه کړ. په هره ادبي ناسته محفل کې به د شعر ويلو پرمهال د خلکو له زيات تشويق او ولولو سره مخ کيدلو د ده د شعر مهمه ځانګړنه دا ده، چې نوراني شعر په ساده او روان انداز کې ليکي، خو نوي کليوالي تصويرونه او اصطلاح ګانې پکې زياتې کاروي. همدا دليل دی.، چې شعرونه يې له نوښته ډك دي او زيات مينه وال لري. په شعر کې يې مينه ارمان عاطفه او ټولنيز دردونه خوندي دي. د ټولنې ټولو ناخوالو او ستونزو ته يې اشاره کړېده.

د نوراني د شعرونو شمېر ۳۰۰۰ زرو ته رسيږي په ۱۳۷۲ کال کې يې د شعرونو، لنډوکيسو، ادبي ټوټو، ادبي ليکنو او د زلميو شاعرانو پرکتابونو د سريزو په ليکلو پيل کړی. په ۱۳۸۸ هجري لمريز کال کې يې (تا خو ويل، چې زه به نښه درکړم) تردې نامه لاندې يوه شعري ټولګه حيدرخېل ادبي بهير ۱۵۰۰ټوکو په شمير خپره کړېده. نوراني دا مهال دوه ناچاپ شوي اثار لري، چې له (له بېله تر سياسته)، د شعرونو نا چاپ ټولګه او درېيم يې هم همدغه اثر( په لپه کې سپرغۍ) چې اوس مو په لاس کې دی. د نوراني د شعرونو د ليکلو ترڅنګ يو شمير ادبي ټوټې، لنډې کيسې، سياسي او ټولنيزې ليکنې په چاپي رسنيو کې هم خپرې شوېدي. د نوراني چاپ شوی کتاب د خوست ښار په کتاب پلورنځيو کې نه موندل کيږي. مينه وال يې لاهم هيله لري، چې د بيا ځل لپاره چاپ شي او د دوی ترګوتو ور ورسيږي.

ketabton.com - The Digital Library



## د نوراني ژورنالېستيک ژوند او کړنې

د طالبانو د واکمنۍ د راپرځيدو وروسته نوراني د يوې خپلواکې مجلې [سمون] په نوم مرستيال شو. په ۱۳۸۱ کال کې د خوست ولايت په اطلاعاتو او فرهنګ رياست کې د باختر اژانس مديريت اړوند په خدمتي ډول د خبريال په توګه په فعاليت پيل وکړ. په ۱۳۸۳ کال کې يې د خوست مجلې د مرستيال په توګه رسمي دنده واخېسته، چې د مجلې پر چارو سربېره به يې د باختر اژانس مسول په صفت هم دنده ترسره کوله، له دوه کلن ځنډ وروسته يې د باختراژانس په پوست کې رسمي منظوري واخېسته او پدې موقعه يې د افغانستان ملي راډيو تلويزيون سره هم له خوست څخه د خبريال او د خپلواکې اوونيزې (سباوون زيري) په نوم د هغې سره د مهتمم په توګه دندې پرمخ وړې، په ۱۳۸۴ هجري لمريز کال کې خوست تلويزيون تازه په نشراتو پيل وکړ، ښاغلي نوراني د خپلې وړتيا او ځيرکتيا له مخې خوست تلويزيون ته د کارکولو لپاره ورمعرفي شو، چې درې کاله د خبري څانګې مشري يې په غاړه واخيسته، له هغې وروسته په تلويزيون کې د ادبي اوسياسي خپرونو مسول شو د۱۳۹۱ کال پورې يې د خبري سروېس وياند، خبريال او پروډيوسر په توګه دندې پرمخ وړې دي. ښاغلي نوراني د ځواني انرژۍ او وړتيا له مخې د يادو دندو ترڅنګ په ۱۳۸۶ کال کې د چين نړيوال خبري اژانس شينهوا په ۱۳۸۷ کال کې د الجزيزې تلويزيون د انګليسي څانګې سره د جنوب ختيځو ولايتونو لپاره د خبريال په توګه دندې ترسره کړيدي.، چې څلور کاله يې يادې دندې پرمخ وړې دي. همداراز يې د اروپايي فوټو ايجنسۍ سره د فوټوګرافر او د تمدن تلويزيون سره د خبريال په توګه د جنوب ختيځو ولايتونو څخه د رپوټ ورکولو په برخه کې د خبريال په توګه دوامداره همکاري کړېده، ښاغلي نوراني نه يوازې د يو ښه خبريال په توګه نيك شهرت ترلاسه کړی، بلکې دی د ښه غږ او خواږې حنجرې څښتن دی. د ژبې له پلوه ښه فصاحت او بلا غت لري، له همدې امله يې خوست ولايت ته دوه ځلې د پخواني ولسمشرحامد کرزي راتګ، د وزيرانو او بهرنيو سفيرانو د راتلو په وياړ جوړ شوو مراسمو، سترو قومي او سياسي غونډو د لويو پروژو د پرانيستې د مراسمو د وياندويي چارې پرمخ وړې دي.

ketabton.com - The Digital Library



نوراني د ژورنالېزم په ډګر کې په خپله ښه عکاس او کمره مین پاتې شوی، له اکثرو پېښو او غونډو يې په خپله عکاسي کړې او بيا د رپوټ په بڼه له تلويزيونونو خپرې کړې دي. نوراني د ښه شعر ليکنې په څير د رپوټ په ليکلو کې هم ځانګړې مهارت لري، اکثر پيچلي او د نويو موضوعاتو څخه به نوراني رپوټونه جوړول.

نوراني د حقيقي ژورنالېزم د ترسره کيدو او د خپل اصلي مسوليت د اداکولو په خاطر د اکثرو پېښو او مراسمو څخه د خبري پوښښ لپاره د خلکو د ژوند د څرنګوالي او ستونزو د معلومولو په خاطر د خوست ولايت اړوند لرې پرتو ولسواليو، ګاونډيو ولايتونو ته د پروګرامونو د جوړيدو په خاطر سفرونه کړي او د خلکو غوښتنې او ستونزې يې د ځانګړو پروګرامونو او رپوټونو له لارې خپرې کړې دي. خلکو او چارواکو ته يې حقيقي معلومات رسولي دي.

نوراني په خوست تلويزيون کې د [ زرغون ټال] په نوم ادبي خپرونه درې کاله پرمخ وړې ده، چې پدې خپرونه کې به د خوستيو شاعرانو سره مرکې د نوموتو شاعرانو په ژوند د ادبي خوځښتونو او نوښتونو همداشان د ادبي ژانرونو په اړه بحث کيدو. دغې خپرونې زرګونه ليدونکي لرل، ځکه نوراني د خپلې ادبي تجربې او وړتيا له مخې د خپرونې ځولۍ په ښايسته توکو رنګينه وله، د همدې خپرونې له لارې نوراني نه يوازې رسنيز مسوليت سرته رسولی، بلکې د پښتو ادب د چوپړ لپاره يې هم زيار ايستلی دی.

په خوست تلويزيون کې د سياسي خپرونې: پدې پروګرام کې به قومي مشران، سياسي شنونکي ميلمه کيدل او د سيمې هېواد په روانو سياسي کشمکشونو او امنيت، بيارغونه، سوله او پرمختګ باندې به يې تماس نيولو. دغه ګردي سياسي ميزونه به اکثر په تودو موضوعاتو څرخيدل.

ketabton.com - The Digital Library



## د ښاغلي نوراني سیاسي ژوند، کار او خدمت

ښاغلي نوراني د نیك شهرت او په ټولنه کې د خاص محبوبیت له مخې ملګرو او دوستانو اړ کړ، چې په هېواد کې د را روانو ټاکنو به بهیر کې د ولایتي شورا له لپاره ځان نوماند کړي، هغه و، چې په ۱۳۹۳ کال کې د ولسونو د پراخې همکارۍ په ترڅ کې د ولایتي شورا چوکۍ ته بریالی شو.
د رسمي دندې د پیل راهیسې د خوستوالو لپاره په خدمت بوخت دی.
د وکالت په جریان کې یې د هر خوستوال ورور ستونزې ته رسیده ګي په ډېره ساړه سینه یې د دوی غوښتنې او نظریات اوریدلي او د هغې د حل لپاره یې مناسبې لارې پیدا کړېدي.
د خوست ولایت په کچه په هرډول پرمختیایي او رغنیزو پلانونو او پروګرامونو کې یې د فعال وکیل په توګه ونډه اخیستې ده.
د خوست د بهبود لپاره یې د پرمختیایي پروژو د منظورۍ په خاطر د ولایتي شورا په چوکاټ د نورو وکیلانو صاحبانو سره په ګډو غونډو او تصویبونو کې برخه اخیستې ده او مرکز کابل ته یې په لیکلي بڼه لیږلي دي.
د ځینو بې ګناه او شخصي خصمتونو په اساس د بندیانو په خلاصون کې یې تر خپله وسه منډې ترړې کړې دي.
ښاغلی نوراني ساده او خاکساره انسان دی. ډېرموټر، ساتونکي او دبدبه یې نه خوښیږي، په خوست ښار کې په یو ساده یو پوړیز کور کې ژوند کوي.
د خلکو سره یې ناسته ولاړه، د یو عادي کلیوال په توګه کړي.
د هر موکېل سره په ورین تندې روغبړ او ستونزې ته یې رسیده ګي کړې، د دوی هرې ټیلیفوني اړیکې ته یې ځواب ویلی او هرې ادارې ته ورسره د ستونزو د هوارې لپاره تللی دی.
بې ځایه ژمنې او وعدې نه کوي، څه یې، چې په وس کې وي، خپل وس نه سپموي.
همداشان د ده وطني او ملي مینه زیاته د ستاینې او منلې وړ ده. د خلکو د ښیرازۍ او د سیمې د ابادۍ لپاره شپه ورځ هڅې او تلاشونه کوي.

ketabton.com - The Digital Library



دی د خلکو لپاره د خدمت کولو او د دوی ستونزو د هوارولو سخت لیوال دی. شپه او ورځ تلاش کوي، چې د خوستیو ولسونو ستونزو ته د حل لارې ومومي.

نوراني: د خوست په ځینو سیمو کې د یو شمیر پروژو د منظورۍ او تطبیق لپاره بدریغه کوښښونه کړي دي. د بېلګې په توګه یې خلکو ته د څښاك اوبو، استېنادي دیوالونو، ویالو، سربندونو، د زراعتي پروګرامونو په منظورۍ کې خپلې هڅې نه دي سپمولې.

ښاغلي نوراني د معارف په ډګر کې د زده کړې لپاره د ښه چاپیریال، د ودانیو جوړول او د درسي توکو په رسولو کې پوره همکاري کړېده.

همداشان یې د صحت په برخه کې د ځینو کلینیکونو څخه لیدنه کړې او د خلکو ستونزې یې راټولې او اړوندې ادارې سره یې شریکې کړې دي.

ښاغلي نوراني د قومي شخړو او خپلمنځي دښمنیو په حل کې نه ستړې کیدونکي هلې ځلې کړې، چې د تیرو دوونیمو کلونو په لړ کې یې پنځه بېلابېلې دښمنۍ، چې طرفینو پکې د خپلو کورنیو لسګونه غړي له لاسه ورکړي وو. زیاتو کوښښونو او منډو پایله کې په دوستۍ بدلې کړي او د دوی ترمنځ یې د سولې او ورورۍ فضا ایجاد کړې ده.، چې لا یې هم پدې برخه کې هڅې روانې دي.

ښاغلي نوراني د خوستیو ځوانانو لپاره د تعلیم اوکارموندنې په برخه کې هلې ځلې د یادولو دي. ګڼ شمېر بې وزله ځوانانو ته یې ښوونځیو او پوهنتونو ته د تعلیم کولو لپاره د زده کړې زمینه مساعده کړېده.

لسګونو تنو ځوانو کادرونو ته یې د اهلیت پربنسټ به بېلابېلو ادارو کې د دندو موقعې برابره کړېده.

ښاغلی نوراني بېوزله کورنۍ، یتیمان او کونډې هم له یاده نه دي ایستلي، د یوشمېر موسساتو او د ټولنیزو خیریه بنسټونه له لارې یې دوی ته د مرستې زمینه مساعده کړېده.

چې د خوست ټولنیز او مرستندویه بنسټ سره د یو فعال همکار په توګه پاتې شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library



همداشان يې د خوست په سمسورتيا او چاپيريال ساتنې کې فعاله ونډه اخيستې، هر کال يې په خپل شخصي لګښت او د ځينو ادارو په مرسته په ښوونځيو، جوماتونو او عامه ځايونو کې زرګونه نيالګي کينولي دي.

په خوست ولايت کې د ښه امنيت د تامين، د ولسونو د ارامه ژوند ، د ښه والي په برخه کې يې په هر راز پروګرامونو کې ونډه اخيستې، ولسونه يې د امنيت، سولې او بيارغونې په ګټو او اهميت پوهولي او پدې برخه کې يې د قومي مشرانو او ځوانانو سره ناستې پاستې کړې، ترڅو پدې ولايت کې ډاډمن امنيت تامين او د سولې راوستو لپاره کار وشي.

د خوست ولايت اړوندو ولسواليو او کليو ته يې د موکلينو د ستونزو او غوښتنو د اوريدو په خاطر وخت ناوخت سفرونه کړي، د دوی ستونزې او نظريات يې راټول کړي، له اړوندو ادارو سره يې شريك کړې دي.

د خوست ولايت د خلکو د ستونزو په رابطه يې څو ځلې پلازمېنې کابل ته سفرونه کړي، چې د اړوندو وزارتونو وزيرانو او لوړپوړ چارواکو سره يې د خوستوالو اساسي ستونزې او غوښتنې شريکې کړې او د حل په مورد يې ورسره قوي استدلال کړی دی. د دې ترڅنګ يې د سفرونو په لړ کې د ملي او نړيوالو رسنيو سره په ګرديو ميزونو او ځانګړو مرکو کې د خوست په اړه اغېزمن معلومات او ستونزې مطرح کړې د مرکزي دولت توجه يې راجلب کړېده ده.

په ادب: نجيب الله رحيمي

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*